شريعت

اوونيزه

دافغانستان دطالبانو داسلامی تحریک مرکزی نشراتی ارگان

PROPERTY OF ACKU S 1789

فرمان الهي

اي مغو كسانو چه ايمان يې راوړي دي(اي مؤمنانو!) فرض كړي شوي دۀ په تاسي باندي روژۀ لكه چه فرض كړي شوي دۀ په مغو كسانو چه پخوا له تاسي څخه وو(لكه پخواني امتونه او پيغمبران تر آدمه پوري) له پاره ددي چه تاسي ځان وساتئ(له گناهونو څخه او پرهيز گاران شئ) ځكه چه روژۀ د شهواني قوي ماتوونكي دۀ)

(بقره -١٨٣)

ارشاد نبوي

كسيكه از روي ايمان و طلب رضاي خداوند"ج" روزۀ رمضانرا بگيرد گناهان سابق او بخشيدۀ شود.

(بخاري و مسلم)

دريم كال دوهمه گڼه پرله پسې (١٠٣) | چهارشنبه د١٣٧٦ هـ ش كال د مرغومي دمياشتي (١٧) | د١٩٩٨ميلادي كال جنوري (٧) | د١٤١٧هـ ق كال د رمضان المبارك (٩)

تذكر خطر ايمان است اگر به اين كلمات مقدس بي حرمتي كنيد .

د اطلاعاتو او كلتور وزارت سرپرست محترم ملا امير خان "متقي" له شريعت اوونيزي سرۀ په مركه كي :

په بهر كي ميشته مهاجر افغانان له خپل اسلامي امارت سره پوره مينه، دلچسپي او نه شليدونكي تړاو لري

په دي هيوادونو كي نافذو قوانينو افغانان له روحي او مادي ستونزو سره مخ كړيدي

دي مهاجرينو د افغانستان په اړه د واشنگتن او ملگرو ملتونو موجودۀ دريځ غير منصفانه باله

محترمو او درنو لوستونكو !

تاسي به خبرياست چي د اطلاعاتو او كلتور وزارت سرپرست محترم ملا امير خان متقي د اسلامي امارت د يو لوړ رتبه هيئت په ملگرتيا امريكا ، اروپايي هيوادونو او سعودي عربستان ته يو سفر كړي وو . موږ په دي هيوادونو كي د ميشته و مهاجرينو د ستونزو او د ځنو نورو مسايلو په هكله له دوي سره مركه كړيده چي په گډه يې سره لولو .

محترم متقي صاحب په لويديځ او اروپايي هيوادونو كي د افغان مهاجرينو احساسات د افغانستان د اسلامي امارت په اړه څه ډول وو او تاسي يې څه ډول استقبال كړي؟

ځواب : موږ ته په برطانيه ، غرب او سعودي كي د افغان مهاجرينو لخوا ځاي په ځاي دروند هركلي وويل شو په ورتگ مو دوي خوشحاله شول د دوي د دومره خوښي او زموږ نه د درانه استقبال لا مل دا دي چي موږ دوي ته په زړه پوري د يو اسلامي تحريك، د دوي د زړه په غوښتنه د يو اسلامي امارت او د يو حاكم اسلامي جريان استازي وو دوي د افغانستان په اړه هماغه د قدر وړ نظر درلود چي ټول افغانان يې لري. زموږ سره د دوي دا صميمانه چلند ددي څرگندوي دي چي دوي له اسلامي امارت سره نه شليدونكي تړاو او د زړه له كومي مينه او دلچسپي لري او د اسلامي امارت له ټولو كړو وړو نه راضي دي او همدا اسلامي امارت د خپلو هيلو ترجمان بولي. موږ هم د دوي له دي گرم استقبال نه ډير خوښ او ممنون يو .

پوښتنه : ځني غربيان پروپاگند كوي چي د طالبانو اسلامي تحريك د دوي په اصطلاح له جنگ او د شريعت له تطبيق نه پرته كومه بله برنامه نه لري ستاسو په نظر هلته ميشته افغانان څو به يې تر تاثير لاندي نه وي راغلي ؟

ځواب : ښكاره خبره ده چي د اسلام د دښمنانو ناوړه پروپاگند به هلته په ميشته و افغانانو څه نا څه اغيزه كړي وي دا چې څوروم مخ

خطر ايمان است اگر به اين كلمات مقدس بي حرمتي كنيد .

بيان مطبوعاتي عاليقدر امير المؤمنين

عاليقدر امير المؤمنين به تاريخ ١٥ جدي سال جاري در يك بيان مطبوعاتي در كندهارفرمودند : در صورتيكه ملل متحد خواهان منع زرع كوكنار در افغانستان باشد ما نيز به همان پيمانه تقاضاي كار را از ملل متحد داريم كه در مقابل منع ترياك ملت را به آن قانع ساخته باشيم كه اندازۀ اعمار مجدد به طور عموم به خير و نفع مردم باشد اگر چنين نباشد چطور قناعت ملت ما حاصل گردد و هدف از اعلاميه قبلي نيز همين بودۀ است .

مواد مخدر به ضرر افغانها هم تمام ميشود امارت اسلامي افغانستان نيز به طور جدي در نظر دارد اگر همكاريهاي ملل متحد باشد و يا نه باشد به مرور زمان سعي ميكند تا دشتهاي وسيع را اباد ، مردم بي زمين را زميندار نمايد و براي مردم كم زمين ، زمين توزيع نمايد كه در نتيجه آن اين زرع خطرناك از بين بردۀ خواهد شد .

د كندز د جبهاتو عمومي قوماندان محترم امير خان «حقاني» له شريعت اوونيزي سره په مركه كي :

دښمن په تالقانو كي زموږ نه سر نه شي خوځولي

دليلي د دښتي د شهيدانو ويني به هرو مرو رنگ راوړي

رباني تل ظاهراً خبرو ته چمتو والي ښكاره كړيدي خو په عمل كي يې د جگړي اور ته لمن وهلي ده

د شريعت اوونيزي درنو لوستونكو ! تاسي به دا اوريدلي وي چي د اسلام دښمنان تل د اسلام لښكر پسي چي غواړي په گران افغانستان كي د اسلام مقدس دين ټينگ كړي او د اسلام دښمنان د تاريخ كندي ته وسپاري په دروغو داسي پروپاگند كوي چي گواكي د افغانستان د اسلامي امارت اردو د كندز په ولايت كي له ماتي سره مخ ده او يا د دښمن تر محاصري لاندي ده . دا دي سياسي د لا خبرتيا په خاطر د شريعت اونيزي ليږل شوي خبريال له محترم امير خان «حقاني» سره چي د كندز ولايت د ټولو جبهاتو عمومي قوماندان او مسؤل دي مركه كړي ده چي ستاسو د رنو څلورم مخ

در كشمير اشغالي يك مارش احتجاجي براه انداخته شد

سرينگر : به سلسله عكس العملهاي مسلمانان كشمير به ارتباط سوختاندن زيارت شاه همدان در پنجاه كيلو متري سرينگر يك مارش بزرگ از طرف كنفرانس حريت براه انداخته شد. قيادت اين مارش را ياسين ملك يكي از رهبران كنفرانس حريت بر دوش داشت ، وي به مردم سخنراني نموده و مسووليت حادثه حريق زيارت شاه همدان را بر دوش حكومت انداخت .

اين حادثه يكي از حوادث درد ناكي است كه قهر تمام مسلمانان جهان را يكبار ديگر بر انگيخته است .

مسؤوليت بلند رفتن نرخ مواد ارتزاقي در بدخشان به دوش جنگ افروزان شر و فساد ميباشد

يك شاهد عيني كه تازه از ولايت بدخشان به كابل آمده است راجع به وضع زندگي و چگونگي معيشت مردم آن ولايت به خبرنگار هفته نامه شريعت چنين اظهار داشت : نرخ مواد خوراكه و ضروريات اوليه در آنجا خيلي زياد صعود نموده است كه توان خريد اشياي ضروري به خصوص خوراكه باب از عهده بسياري از مردم بيرون شده است . علت بلند رفتن نرخ مواد ارتزاقي به دوش جنگ افروزان شر و فساد بوده زيرا در اثر جنگ هاي ذات البيني عناصر شر و فساد مردم به فعاليت هاي روزمره خود ادامه داده نه توانسته و راه هاي ترانسپورتي نيز به رخ آنها مسدود گرديده است .

موصوف علاوه مينمايد قيمت يك ليتر تيل سوخت ٦٠ هزار افغاني، يك كلچه صابون كالا شويي ٤٠ هزار افغاني، يك پاو چاي ٢ صد هزار افغاني، يك كيلو شكر ٥٠ هزار افغاني و يك سير گندم به ١٥٠ هزار افغاني رسيده است .

هندو هاي بنياد پرست تهديد نموده اند كه مساجد مدارس و مترا را تخريب مينمايند

حكومت هند مسلمانان را از اداي نماز با جماعت منع كردۀ است

دهلي جديد : طبق يك گزارش داده شده از دهلي جديد هندو هاي بنياد پرست هند تهديد نموده اند كه مساجد مدراس وسترا را تخريب و بجاي آن، درمسال ها اعمار خواهند. نمود هندو هاي متعصب قبل از اين هم تخريب مسجد بابري را مرتكب شدند و درين روز هاي نزديك زيارت شاه همدان در كشمير اشغالي را حريق نمودند و اين خطر هنوز هم بر طرف نشده است كه مساجد مسلمانان در هند از طرف هندو هاي متعصب مورد تهديد قرار مي گيرد .

طبق يك خبر نشر شده از اسلام اباد حكومت هند در سوپور مسلمانان را از اداي نماز با جماعت صبح و خفتن منع كرده است حكومت هند علت اين اقدام غير اخلاقي را ذكر نكرده است اما امكان دارد كه آنرا از ترس آنكه مبادا مسلمانان متوسل به څلورم مخ

پنجاه فيصد نوزاده گان امريكائي را «حرامزاده ها» تشكيل ميدهند

قرار گزارش منابع خبري بين المللي در ايالات متحده امريكا پنجاه فيصد از نوزادان آن قبل از عروسي و عقدنكاح مادران خويش به دنياآمده اند همين اكنون از اطفال موجوده شهر هاي واشنگتن و نيويارك به تعداد نيم مليون(پنجصد هزار) آن كه در پرورشگاهابسر مي برند، از طريق رابطه نا مشروع جنسي توليد شده اند

اينست دست آورد «تمدن عصر جديد» براي بشريت!

ترميم وركشاپ ميدان هوايي خواجه رواش آغاز گرديد

كار ترميم و احيا وركشاپ ميدان هوايي خواجه رواش بتاريخ ١٥ جدي آغازگرديد .

آژانس اطلاعاتي باختر خبر ميدهد : وركشاپ متذكره كه در نتيجه جنگهاي رژيم گذشته تخريب و از بين رفته بود كار ترميم و احيا آن توسط پرسونل و انجنيران رياست ساختماني تهيه مسكن آغاز گرديد .

په اشغالي كشمير كي د څوارلسو مياشتو په جريان كي ٢٥٠٠ كشميريان په شهادت رسيدلي دي

سرينگر : د ترپوالو خبري منابعو د خبر له مخي ويل كيږي چي د آزاد جمو او كشمير صدراعظم پير سنهر سلطان محمود چوهدري دهندي پوځيانو له خوا نه د كنترول لين په اوږدوكي د ډزو كولو سخته غندنه كړي او د ملگرو ملتونو څخه يې غوښتنه كړي ده چي كنترول لين ته نږدې ساريانو د حفاظت او ساتني لپاره ضروري اقدامات وكړي .

همدا راز د تيرو څوارلسو مياشتو په جريان كي ٣٥٠٠ تنه كشميري مسلمانان د هندي پوځيانو د زور زياتي له امله په شهادت رسيدلي دي . هندي پوځيانو په تيرو (٨) كالو كي ٧٥٠٠٠ تنه كشميريان د بيلا بيلو پيښو او نښتو په ترځ كي په شهادت رسولي دي.

د يو بل خبر له مخي هندي پوځيانو د كشمير په مركز كي په لويه پيمانه زور زياتي پيل كړي دي د پاكستان راديو خبر وركړ چي هندي پوځيانو په سرينگر كي په لويه پيمانه د كورونو څلورم مخ

د ليلي د دښتي د غميزي د غبرگون په لړكي

د افغانستان خلك د ليلي ددښتي د طالبانو وله پيښي وژني سخت دردولي دي او د هغوي په قاتلانو باندي لعنت وايي او د قرآن پاك په ختمونو او دعاگانو سره دشهيدانو روح ښاد غواړي او خپل غږ د ملگرو ملتونو غوږونو ته رسوي او له هغوي څخه د خپلو بي گناه شهيدو طالبانو قاتلان غواړي چي په دغه لړكي د لبندي د مياشتي په ٣٠ په كندهار كي په زرگونه تنو افغانانو يو ستر لاريون وكړ او د لاريون په جريان كي يې خپل غږ د ملگرو ملتونو دفتر ته ورساوه او د يو پريكړه ليك په ترځ كي يې له ملگرو ملتونو څخه وغوښتل چي د طالبانو حكومت په رسميت وپيژني او هم يې له ملگرو ملتونو څخه وغوښتل چي د ليلي ددښتي د شهيدانو قاتل جنرال ملك او د هغه نور جرمي شريكان د افغانستان اسلامي امارت ته تسليم كړي. او همدارنگه د هيواد په نورو سيمو كي هم د ليلي د دښتي د بي گناه شهيدانو له امله د خلكو كركه او نفرت د گلم جم او د خليلي د څلورم مخ

د بشكو په ذليلولو او په نړۍ كي د فحشا په خپرولو كي مسكو او له مسكو نه آزاد جمهوريتونه په لومړي درجه كي قرار لري

د بشر د حقوقو مدعي هيوادونه له دي بي چاره و ښځو نه په كلپونو ، رقص خانو ، ميخانو او مساژ خانو كي كار اخلي

د ښځو په ذليلولو او په نړۍ كي د فحشا و او جنسي چارو په پراختيا كي مسكو او له مسكو نه آزاد شوي جمهوريتونه په ټوله نړۍ كي په لومړي درجه كي قرار لري .

په پاكستان كي خپريدونكي نواي وقت ورځپانه په خپلې ٥ جنوري ١٩٩٨ م گڼه كي په روسيه كي د بشر د حقوقو څيرونكي امريكايي ټيم د ريوت له مخي ليكي چي : د ښځو په ذليلولو ، اخلاقي انحطاط ته په را كښلو او په نړۍ بر كي د فحشا و او جنسي انحرافاتو په خپرولو كي مسكو او له مسكو نه آزاد شوي جمهوريتونه په ټوله نړۍ كي په لومړي درجه كي قرار لري .

په دي ريوت كي راغلي دي چي په نړيوال كچ يو منظمه دله لگيا ده او د ښځو روسانه مستقبل د خپلو ناوړو هيلو او شومو اغراضو لپاره له تهديد او بربادي سره مخ كوي په مسكو كي د بشر په څلورم مخ

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

اوس به جوته شي چي :

د افغانستان د اسلامي امارت مخالفين د سولي د خبرو ورانديز ته سم ځواب وركوي او كه به ټوي پلمي رامخي ته كړي؟

دوي او د دوي بهرني پلويان تل داسي ډنډوري غږوي چي د افغانستان ستونزه دي د خبرو اترو له لاري غوڅه شي مگر د عمل په ډگر كي يې هيڅكله هم ريښتوني گام نه دي اخيستي!

د مخالفينو مشر(!) رباني چي په لس گونو كلونه يې د پاكستان په دسترخوان خوړلي، ځكلي او په مليونونو كلداري د جهاد كومكونه يې جيب ته كړي ؤ او بيا يې ډير وخت د خپل جمهوري رياست په دوره كي دښمني او نمك حرامي ورسره وچلوله له هغه سره سره يې د پاكستان وروستي دوري ته زړه ونيو او هلته يې د افغانستان د اسلامي امارت د سولي د خبرو پيل كيدو وړانديز په ځواب كي د علماو و كرامو يوي شورا ته د واك سپارلو كلكه ژمنه وكړه، د هغې له مخي افغانان او د نړي مخلص مسلمانان په دي تمه خوشاله شول چي ځوړ په جنگ ځپلي هيواد كي به سوله راشي !

مگر په دي خبره كي له لومړي وخت نه شك دي چي دده د ائتلاف ملگري او بهرني پلويان د علماوو كرامو په شرعي فيصله راضي دي او كه نه ؟! ده ته بي غي خبري واك سپارلي ؤ او كه نه ؟!

دوهم مخ

د اوبو او برېښنا وزير محترم ملا محمد عيسي اخند له شريعت اوونيزي سره په مركه كي :

په نږدي وخت كي به ان شاء الله دوهم سركټ په كار پيل وكړي چي د برېښنا پرچاوي به بالكل قطع شي او څلېرويشت ساعته به برق جريان ومومي

درنو او قدرمنو لوستونكو !

د كابل ښار محترمو ښاريانو د خپلو بيلا بيلو ليكونو په ترځ كي چي شريعت اوونيزي ته يې رالېږلي دي په كابل ښار كي د برېښنا د توزيع له جريان نه شكايت كړيدي او د برېښنا د پر چاوي پروگرام يې غير منصفانه يې بللي دي او ليكلي يې دي چي برېښنا اكثره وخت نه وي دوي د برېښنا وزارت له مقام نه احترامانه هيله كړيده چي د يخني په دي موسم كي د برېښنا د توزيع جريان ته پام راواړوي .

موږ په دي خاطر چي د دوي غږ او شكايت مو د وزارت د مقاماتو غوږ ته رسولي وي د برېښنا له محترم وزير سره مو مركه وكړه اوله دوي نه مو وغوښتل چي د برېښنا د توزيع جدول موږ ته راكړي چي د ښاريانو د اطمينان لپاره يې نشر ته وسپارو دوي فعلاً موږ ته د پرچاوي د جدول له راكولو نه معذرت وغوښت خو ژمنه يې وكړله چي په راتلونكي اونۍ كي يې د نشر لپاره راته وسپاري موږ هم د دوي د وعدي د وفا په هيله دا دي د محترم وزير صاحب مركه نشر ته سپارو .

پوښتنه : لطف وكړي د شريعت اوونيزي درنو لوستونكو ته د كابل برېښنا د فعاليت د جريان په هكله معلومات وركړي ؟

ځواب : تاسو ته جوته ده چي مخكي د كابل برېښنا د دريگونو فابريكو ماهيپر، نغلو او سروبي څخه د خلورو سركټو په ذريعه كابل ښار ته انتقال كيدله چي د هر سركټ قدرت 60MW ميگاواټ و . اوس كابل ښار ته يوازي يو سركټ د برېښنا د نغلو او سروبي فابريكو څخه راغلي دي په نغلو او سروبي كي زموږ توليد ١٢٠ ميگاواټ دي چي د هغي يو دوهم مخ

پاپ جان پال د سي. آي. اي ايجنټ دي

دي كليسا د سپيني ماڼي د اهدافو لپارۀ استعمالوي

د عيسايانو لوي مذهبي مشر پاپ جان پال د امريكا د متحده ايالاتو د جاسوسي د شبكي ايجنټ دي او كليسا د سپيني ماڼي د اهدافو لپاره استعمالوي د امريكا پخواني جمهور رئيس رونالدريگن نوموړي دي كار ته چمتو كړي .

د پاكستان په راولپنډي كي خپريدونكي «نواي وقت» ورځپانه په خپلې د جنوري د مياشتي دوهمي ١٩٩٨م د جمعي ورځي گڼي كي ليكي : بي بي سي د يو مستند قلم په ښودلو په پاپ جان پال لگيدلي دي تور د صحت او ثبوت پايه ولگوله چي پاپ جان پال امريكاد سي آي اي د لاس اله ده.

د تفصيل له مخي په ١٩٩٦ كال كي يو كتاب خپور شو چي په دي كتاب كي په پاپ جان پال (د ټولي نړي په سطحه د عيسايانو لوي مذهبي مشر) او ويټيكن باندي دا تور لگول شوي وو چي دوي د امريكا د استخباراتو او جاسوسي شبكي ته كار كوي او د سي اي اي په بهرني پاليسي كي مهم رول لري په پيل كي ده دا خبره رد دوهم مخ

د دير د ضلعي ټولو علماء و د افغانستان له اسلامي امارت سره خپل ملاتړ څرگند كړ

د تيري جمعي په ورځ د پاكستان د دير د ضلعې د اونيزي د سيمي په بيلا بيلو مساجدو كي علماو او مشايخو د جمعي د لمانځه په خطبو كي د افغانستان له اسلامي امارت سره خپل ملاتړ څرگند كړ او د افغانستان د اسلامي امارت ټول كوښښونه او هلي ځلي يې وستايلي دي علماء وويل چي امريكا او نور كفري ځواكونه نه غواړي چي په افغانستان كي د جگړي اور ختم شي همدا راز دوي په افغانستان كي د اسلامي نظام د ټينگيدو په لاره كي ډول ډول خنډونه را منځته كوي خو موږ امريكي ته دا وايو چي تاسي اسلامي حكومت ختمولي نه شي، او تاسي څلورم مخ

جهاد ما عليه قلع و قمع الحاد، شر و فساد يك امر و فريضه ثابت شرعي و يك ضرورت ملي بوده كشته گان اين مسير، شهيدان راه الله و تأمين كننده گان حاكميت ديني، ملي، تماميت ارضي و استقلال كشور ميباشند

شریعت

دامتیاز خاوند : دافغانستان دطالبانو اسلامي تحریک
دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : الحاج مولوی عبد الرحمن احمد «هوتک»
مرستیال : ملا أسد الله «حنیفي»
دیوې ګڼې بیه : په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانی
په پاکستان کی (۲) کلداری
آدرس : کابل وزیراکبر خان مینه / سرک۱۱/ کور (۵۲۰)
تیلفون : ۲۱۲۸۱ - توزیع و شکایات ٦۲۸۵۹
پوست بکس : (٤۷۱)
په پېښور کې : دطالبانو نمایندګی / تیلفون: ۸٤٤۳۲۱-۸۱۸۱۵۷-۸۱۵٦۲۷
جاري حساب : ٤۰۲۸۵/۷ د افغانستان بانک مرکز

د سرمقالي پاتي برخه

گنګوسي خو داسي دي چي د ایتلاف ملګري یي په دغه داوطلبي ورسره موافق نه دي دده نږدي ملګري (!) احمد شاه مسعود په حواله ویل شوي دي چي هغه د افغانستان د ستونزي په هکله سیاسي خبري اتري غواړي، د علماوو کرامو شرعي پریکړه او په (ما انزل الله) باندي حکم کول نه مني – نعوذ بالله تعالي –. کېداي شي د ایتلاف نور ملګري یې هم ورته غوښتني ولري لکه څنګه چي دده پخواني صدر اعظم ښاغلي حکمتیار د علماوو کرامو شرعي پریکړه او د شریعت حکم د حل لاره نه بولي او خپله طرحه د حل لاره بولي؛

له دغو ګډو وډو نه او د رباني له بوي خوا بلي خوا خفګانو نه داسي برېښي چي خپلي ورځي به شړي نه ګړاي شي که په رښتیا سره یي شړي کول غواړي؛

او که د څغاستو مطلب یي داوي چي له اوږدي چوپتیا وروسته د اخباري مرکو بازار تود کړي، د شړل شوي جمهور رئیس، پخواني جمهور رئیس او ... نوموته د راډیوګانو له ستوني نه ویاسي نو هغه مطلب څرګو څه پوره کېداي شي؛

د افغانستان اسلامي امارت به تل لاس په دعا وي او دا به یي تونده تلوسه وي چي زموږ له هیواد او هیوادوالونه د الحاد، شر او فساد او د اسلام د دښمنانو له خوا د تپل شوي جګړي او د الله تعالي د اسلامي شریعت په پریکړه مې کړي که څه هم مخالفین یي راز، راز پلمي رامخي ته کړي؛ ځکه د الله تعالي امر داسي دي (... که په کوم شي کي مو نزاع او خلاف شو نو الله او د هغه رسول یعني شریعت ته یي راجع کړي که په الله او اخرت ایمان لرئ– سورة النساء) هیڅ مؤمن او مؤمنه ښځه د اختیار او واك نه لري چي د الله او رسول په یو کار پریکړه شوي وي او دي بله لاره ونیسي – سوره الاحزاب) . (څوك چي د الله په نازل کړي شریعت باندي حکم او پریکړه نه کوي هغوي کافران دي... هغوي ظالمان دي ... هغوي فاسقان دي سورة المائده–) ؛

د افغانستان اسلامي امارت په دي باور دي چي اسلامي فقه د ټولو خپل منځي شخړو په تېره بیا د اسلامي حکومت جوړولو په هکله ډېر پاخه، واضح او جامع اصول او نورمونه لري که د اسلامي امارت مخالفین په رښتیا سره د ستونزي او جګړي غوڅول غواړي نو د زړه له کومي دي د خپل هیواد داسي علماوو کرامو ته واك ورکړي چي په شریعت کي مطالعه او پوهه ولري، د اهل سنت والجماعة د نامتو مدرسو سند یافته او د داسي مهمو پریکړو استعداد او وړتیا ولري نو دا به هم د دوي په ګټه وي، هم به د هیواد او هیوادوالو په خیر وي؛ او که د ځانونو، هیواد او هیوادوالو خیرنه غواړي نو جوته دا چي د پردو ګټي غواړي، د افغانستان اسلامي امارت به د الله تعالي په توکل سره په هیواد کي د امن، سوکالي، بیا ودانولو او اسلامي شریعت پوره عملي کولو هڅو ته دوام ورکوي انشاء الله تعالي .

و من یتوکل علي الله فهو حسبه

قاچاقي سفر

پاکستان ته د استاد رباني سفر له څو ورځني ځنډ وروسته پښتپړ شو د مختلو پښتپېز عوامل له استاد او پاکستان سره دي خو ظاهري لامل یي دا وګڼل شو چي د افغانستان د اسلامي امارت مسوولینو هغه الوتکي ته اجازه ورنه کړه چي پاکستان دده په راوړلو پسي لیږلي وه الوتکه مجبوره شوه چي بیرته پاکستان او بیا په کومو قاچاقي لارو او کړښو رباني صاحب پاکستان ته بوځي، کېدي شي لکه د تورخم : په هوا کي هم د خرو او کچرو داسي لاري او کرښي وي چي استاد پري لکه دده معزول وزیران قاچاقي تیر شوي وي .

یو حیرانوونکي خبر دا هم دي چي په ښاغلي رباني پسي پاکستان خپله حکومتي الوتکه لیږلي وه معنا دا چي د تالقانو امپراتور د خپلي امپراتوري په قلمرو کي الوتکي او د سفر وسایل نلري لدي معلومیږي چي دي پاکستان احضار کړي نه دا چي دعوت کړي یي دي سوال دا دي چي یو څوك د تلو راتلو هوایي لار په واك کي ونلري هغه به د حکومت لپاره ساحه څنګه ولرلي شي ؟

له هندي ځایه ده چي استاد پېښور ته د سهار په ځاي د ماښام په تیاره کي ورسید چي د هرکلي له مراسمو هم بي برخي شو .

عجیبه تصادف دا دي چي استاد د سهار د رڼا پر ځاي د ماښام په تیاره کي د پېښور په هوايي ډګر کوز شو سړي نه پوهیږي چي دا د ده د تیاره بخت نخښه ویولي او که د هغو تیارو تسلسل چي د اقتدار جنون دي او افغانان ټول ورسره مخامخ کړي دي .

تا استرګنو امپراتورانو !! نه تیاره پرده وي چي څوك یي په خیره او لاسونو کي د مظلوم ملت د وینو خاپونه ونه ګوري، نږدي پوري مانه یوه پخواني خاطره را یاده شوه، داسي وخت ؤ چي ما مجاهد جریده او ګران فاضل (یاد یي په خیر) میثاق خون مجله چاپوله، فاضل صاحب د استاد د ترور زوي او په مدرسه کي زما ټولګیوال ؤ ځکه خو مونږ خپله آشنایي ماقبل التاریخ ګڼله – د مجلي پر دو تنه د استاد یو لوي تصویر چاپیده له چاپ وروسته مي تصویر ته وکتل د استاد د لاسونو رنګ بیخي تك سور معلومیده له فاضل صاحب نه مي پوښتنه وکړه – د استاد د لاسونو رنګ ته دي پام دي؟ – ده پخپل ظریفانه او دوستانه انداز وویل:

«از خون مردم سرخ است» .

فاضل صاحب په رښتیا هم حیرانوونکي پیشګویي کړي وه – نه پوهیږم که څوك اوس د استاد تصویر خپروي د لاسونو رنګ به یي څومره سور وي ؟

په پېښور کي د استاد د هر کلي لپاره طبق معمول د توپ ۲۱ ډزي ونه شوي، ځکه استاد د ټوپونو له دومره ډزو سره روږدي دي چي پاکستان بي په ۲۱ ډزو قدر او هر کلي نشي کولي ځکه کورپانه د توپونو له سلامي چور تیر شول .

مرحوم محمد داؤد خان چي پاکستان

پټي پاڼي

شهرت ننګیال

ته سفر کاوه د هر کلي لپاره په پېښور کي ترتیبات تیول شوي وو خو دي په پېښور کي کوزېدو ته له سره حاضر نه شو– او پدغه ټول سفر کي کوټي او پېښور ته ګرد سره ولاړنه، د هغه مرحوم دا کار کومه معما نه وه . کیدي شي اهل سیاست یي په راز او باریکیو پوه وي.

د اسلام اباد د ښار ګلي د لمنو په شکرپړیا په بڼ کي داؤد خان یو نیالګی کینیود، دلته د هیوادونو مشران د خپل سفر په وخت کي یو یو نیالګی کینوي، د داؤد خان د لاس نیالګي اوس هم شته چي یو ډېر لیك ورته لګیدلي دي، خو رباني صاحب په شکرپړیا بڼ کي د نیالګي ایښودلو له پروتوکول نه بي برخي شو، د یو چا چي د خپل هیواد وني یوځي وچ او سوځیدلي وي هغه به د بل په بڼ کي څنګه

چي یو څو وخته بي صبر او انتظار کړي واي سړي نه پوهیږي چي له تحول نه به د استاد مطلب څه وي ! تر پرونه خو ده او انورالانو یي د مکتبي اسلام او اسلامي انقلاب شعارونه ورکړل او اوس یي تحول ته سترګي نیولي دي، کمونستانو هم د نجیب په وروستیو کي د ثور په اصطلاح شا نه تلونکي انقلاب ! د ثور تحول وباله خو دغسي تحولانو خپله د هغوي د رزم پایه زیره کړه .

ښاغلي رباني پدي لړ کي څرګنده کړي نواز شریف په صفائیت د افغان مسائل هواري غواړي زما حکومت قانوني دي په زیاترو هیوادو کي زما سفیران موجود دي، پخواني پادشاه کولي شي د سولي په مکانیزم کي فعال او مخکښ رول تر سره کړي هیواد د نورو جګړو توان نه

ډګي کېنولي شي . کیداي شي ښاغلي نواز شریف دا بد شګون ګڼلي وي او له دغه دوه نه تیر شوي وي .

د پاکستان هوا نرمه او پسته ده او د شاهي میلمستونونو خوراکونه خوندور؛ داسي معلومیږي چي استاد په شاهي میلمستونونو کي په بنې اوږځ پاخیږي طبیعت یي لحوږیږي او د پاکستانیانو په اصطلاح «خوشګوار موډ» یي خپل کړي وي، ده خبریالانو ته څیني داسي زړونه څرګند کړي او هغه دا چي که یو تحول راشي نو بیا به څوك طالبان په مکروسکوب کي هم ونه ویني، که داسي وي نو بیا استاد ، دومره وارخطا اوسرګردانه ولي دي شپه نه وه

لري، د توپونو خولي باید وتړل شي او تېر، هېر وګڼل شي .

د استاد له خبرو ښکاري چي دده په دغه سفر کي العیاذ بالله علم غیب ته هڅه کړي وي ځکه خو یي په پوره باور د ښاغلي نواز شریف د نیت په پاکي او صفایي ګواهي ورکړي او د پاکستانیانو په اصطلاح وعده معاف ګواه یي له ځانه جوړ کړي دي که نه نو د زړونو مالك الله تعالي دي، تر اوسه خپله پاکستانیان د خپل هیواد په اړه د ښاغلي نواز شریف پر نیت او ارادو دومره ډاډ او باور نه دي څکاره کړي،نه شوه چي د بهرني لاسوهني – بدنیتي – او دښمني نور له پاکستان او نواز شریف نه لیري شي، که نواز شریف د پېښور او اسلام آباد د

ترونونو په لړ کي د کوم بل ترون اضافه ونشي کړاي لېږ تر لږه خو یي له رباني صاحب نه د خپل نیت او ارادي د پاکي سند تر لاسه کړ .

رباني صاحب تل د خپل وطن او خلکو په پرتله په بهر او بهرنیانو حساب کړي اوس هم یي نازیږي او ویاړي چي ګڼي په بهرنیو هیوادونو کي سفیران لري، دا خبر دي چي په هیواد کي د نه ۲٦ ولایتونه دده پر ضد راپاڅیدلي دي .

د استاد یو بل انکشاف د پخواني پادشاه د نقش په اړه دي تر اوسه خو ده او ملګرو یي هغه دمحاکمي ورباله او که یو ډېر شپه ورسره ګړول نو هغه دا وو چي پخواني پادشاه په اصطلاح په نوي او انقلابي افغانستان کي هیڅ رول نشي تر سره کولي او هغه زاړه وختونه اوس تیر شوي دي چي بیا نه را ګرځي ځکه خو ده پنفس نفیس د «کرېملین در تلاش شاه مخلوع» کتاب ولیکه چي په زرګونو ټوکه چاپ شو.

استاد د خپل وسعت نظر د اثبات لپاره دا هم ویلي چي د حکمتیار په ګډون په خبرو او نظام کي هیڅوك ځایي له پامه ونه غورځول شي که داسي وي نو بیا دغه څلورتیم کاله کابل په کومو جګړو کي وران او ویجاړ شو .

یوه بله خبره چي د استاد له خوا رابرسیره شوي دا ده چي هیواد د نورو جګړو توان نه لري او تیر باید هیر وګڼل شي، ریښتیا چي هیواد د جګړو توان نلري، کوم توان چي ؤ هغه د دوو استادانو او دوو انجنیرانو په جګړو کي له منځه ولاړ که څه پکي پاتي واي بیا استاد هم دا خبره نه کوله او ددغه توان د ختمولو پروژه یي پر مخ بیوله ، ښه شوه چي اوس دده سر هم پر دغه پکي خلاص شو .

د اوبو او برېښنا وزیر محترم ملا محمد عیسي اخند له ...

سرکټ په واسطه چي کابل ښار ته تمدید شوي دي بوازي ٦۰ میګاواټه برېښنا کابل ته انتقال کېږي خو د لوي خداي ج په مرسته په دا نږدي وختو کي به انشاء الله دوهم سرکټ هم په کار شروع او د کابل ښار ته به پاتي ٦۰ میګاواټ انرژي هم راشي چي د هغه په رارسیدو به په کابل کي پرچوي ګاني بلکل قطع کېږي او برق به په عادي شکل ۲٤ ساعته جریان پیدا کوي .

فعلاً د کابل ښار برېښنا عمومي مصرف په شبکه کي ۱۰۰ میګاواټ انرژي ده او موږ لکه څنګه چي مخکي مو ویل بوازي ٦۰ میګاواټه انرژي لرو نو له همدي لامله موږ مجبور یو چي د کابل ښارته برېښنا ٤۰ میګاواټ پرچوي ورکړو .

پوښتنه : لکه څنګه چي موږ خبر یو د برېښنا د پرچاوي پروګرام اوس د کابل ښار په جوماتونو کي هم صورت نومي چي مخکي جوماتونه د برېښنا له پرچاوي نه بلکل معاف و تاسي په دي هکله څه وایي ؟

ځواب : د اکثرو جوماتونو د برېښنا مزي (تارونه) د خلکو د برېښنا له تارو سره نښتي دي ځکه په پرچوي ګانو کښي شاملیږي هغه جوماتونه چي د برېښنا لین یي مستقل دي هغه له پرچاوي نه معاف دي

پوښتنه : خلك شکایت کوي چي د روژي د مبارکي میاشتي د رارسیدو نه را په دي خوا لیدل کېږي چي اکثراً د افطار او سحر په وختونو کي پرچاوي ګاني رامخي، آیا دا امکانات تاسي لري چي په دغه وختونو کي برق په عادي شکل فعال وساتي ؟

ځواب : الحمد لله زمونږ ټول ولس مسلمان دي او روژه نیسي، د افطار او سحر په وختونو کښي خلك د برېښنا د انرژي څخه اعظمي استفاده کوي نو مصرفونه زیاتیږي ځکه پرچاوي ګاني عملي کیږي او مصرف هغه وخت چي د خپل نورم څخه لوړ شي عمومي لین ته زیان رسوي چي د کابل برېښنا د ټولو تارونو سوزیدلو خطر ده .

پوښتنه : بیا هم د کابل ښاریان شکایت کوي چي اکثراً په هغو سیمو کښ چي با نفوذه خلك ژوند کوي هلته د برېښنا پرچاوي نشته او برېښنا شپه او ورځ په عادي توګه جریان لري آیا ستاسي په نظر دغه یو غیر عادلانه عمل نه دي

ځواب : بوازي د روغتونونو او نورو مهمو ځایونو لکه راډیو، محابس، مخابرات او ... پرته په پوله شبکه کښي یي له ټوپیږ څخه الیته د تجهیزاتو د مشخصاتو سره سم پرچاوي ګاني عملي کیږي .

پوښتنه : په افغانستان کي د اسلامي امارت له استحکام وروسته د اوبو او برېښنا وزارت څومره ملکي خلکو ته په کابل ښار کي برېښنا ورکړي ده؟

ځواب : د تیر کال د تلي څخه راپدي خوا طالبانو وکولاي شول چي شاوخواو کورونو ته د برېښنا انرژي توزیع کړي او دغه شمیر ثبیت نورو کالونو ته ساري نلري .

پوښتنه : تاسي په راتلونکي کي خلکو ته د برېښنا د ښې توزیع په خاطر څه پیش بیني لري ؟

ځواب : د اوبو او برېښنا وزارت کوښښ کوي چي ټولو خلکو ته د برېښنا انرژي تأمین کړي او خپله دنده یي بولي فعلاً ۱۰۰ څخه لین له قندهار څخه کابل ته د دوهم سرکټ په خاطر را انتقالوو د کار د پاتي موادو په لټه کي هم یو تر څو د لوي خداي په مرسته به په نږدي وختو کي به دوهم سرکټ هم کار پیل او برېښنا انتقال کړو .

پوښتنه : د برېښنا د توزیع پروګرام په نورو برخو کي مخکي څنګه ؤ او اوس څه ډول شکل لري ؟

ځواب : د اوبو او برېښنا وزارت کوښښ کوي چي د کابل ښاریانو د برېښنا مشکلات قدم په قدم حل کړي او دا حل انکشافي پلان سره سم عملي کېږي . د برېښنا د توزیع په هکله باید وویل شي چي په سر کال کي موږ وکولاي شول چي ۷ کوروني په مکروریانو کي د اول جکشن ساحه، انټرکانټیننټال هوټل، سیلو، د پلچرخي محبس، ترمیم خانه اردو او نورو زیاتو ساحو ته برېښنا ورکړل شوي ده او ټولو ته معلومه ده چي د کار مواد او وسایل ډېر کم په اختیار لرو .

پوښتنه : په مجموعي توګه د کابل په ښار کي هره ورځ څومره کیلو واټه برېښنا مصرفیږي ؟

ځواب : په مجموعي توګه د کابل په ښار کي په اوسني وخت کښي ۱۵۳۱۰۰ کیلو واټ في ساعت د برېښنا انرژي مصرفیږي .

پوښتنه : بیا هم مونږ ته د خلکو شکایتونه داسي رسیدلي دي چي په کابل ښار کي د برېښنا په برجونو کي اکثراً د برېښنا د فني مامورینو له خوا استفاده جوېږي کیږي تاسي په دي هکله څه وایي ؟

ځواب : څرنګه چي د برېښنا د پرچاوي ګانو په تطبیق کي غیر عادلانه عمل کوي موږ هغوي ته سخته جزا ورکوو .

پوښتنه : بیا هم خلك داسي شکایت کوي چي د برېښنا په برجونو کي اکثراً نظامي خلك (د پولیس د مامورینو مسوولین او یا د استخباراتو مسوولین) ځیني استفاده جوېږي کیږي . د برېښنا د توزیع په هکله باید وویل کړي تاسي په دي هکله څه وایي !

ځواب : موږ له مشرانو څخه غوښتنه کوو هدایت اخیستي دي او د برېښنا په برجونو کښي مو خپرتیاوي نصب کړي دي چي د پرچوي ګانو د تطبیق مراحمت ونکړل شي او بیا هم د محترمو طالبانو څخه هیله کوو چي د پرچاوي ګانو تطبیق په باره کښي مرسته وکړي .

پوښتنه : محترم وزیر صاحب زه خپله آخري پوښتنه داسي مطرح کوم څنګه چي موږ خبر یو دقندهار ښار ته د کجکي د توربین په واسطه ۷۰۰۰ پایې نصب او لینونه هم تر هغه ځاي پوري تیر شوي دي برېښنا رسیدلي ده آیا تاسو نه شي کولي چي همدا بالمثل خدمت او ابتکار په کابل ښار کي هم تأمین کړي ؟

ځواب : د کابل برېښنا دوم سرکټ کار چي انشاء الله ژر به پیل شي او لین هم د قندهار څخه راغلي او انتقال شوي دي او نور پرزه جات او سامانونه هم له بهر څخه راغوښتل شویدي نو د دوهم سرکټ لین چي کابل ته انتقال شي نو د کابل ښار د برېښنا ټول مشکلات به له خیره حل شي او د برېښنا له امله د خلکو څه مشکل نه پاتي کېږي ضمناً باید ووایو چي ځیني پرزه جات او سامانان آلات حربي فابریکي او جنګلك فابریکي ته هم فرمایش ورکړل شویدي .

د شریعت تبصره

جوامع و سازمان هاي کفري غرض تخریب امارت اسلامي مصروف صحنه سازي میباشند

اگر در گوشه و کنار جهان گروه ها و حکومت هاي به شمار انگشت بلکه یکي دو تاي پیدا گردد که از حاکمیت شریعت سخن گوید به دشواري هاي گوناگون و مقابله هاي متنوع روبرو گردیده و میگردد .

امارت اسلامي افغانستان که روابط و ضوابط ملي و بین المللي اداره آن را شریعت اسلامي تشکیل میدهد به همچو مقابله ها جدي روبرو میباشد . امارت اسلامي با دست آورد هاي بزرگ انساني و دیني که دارد و مصدر بزرگترین خدمت در کشور جنگزده افغان در راه تحکیم صلح، امنیت و اعاده حقوق بشري و تأمین حق حیات، مصؤنیت سر و مال براي افراد ملت خود شده و در تطبیق شریعت اسلامي که یگانه خواست ملت مجاهد افغان بوده پیروزي هاي کم نظیر تاریخي را بدست آورده مي بینیم از طرف جوامع و سازمان هاي کفر بین المللي و گماشته هاي آنها در ممالك اسلامي به تبلیغات و فشار هاي گوناگون سیاسي، اقتصادي و ... مواجه میباشد و سخت کوشیده میشود که از سرتاسري شدن این نظام شرعي در کشور مان جلوګیري صورت گرفته و نگذارند وحدت دیني و ملي، تمامیت ارضي و استقلال کشور تحت سایه شریعت اسلامي تأمین و تضمین گردد .

دول و سازمان هاي کفري بین المللي از مخالفین امارت اسلامي به سطح منطقوي و بین المللي دفاع و تائید مي نمایند در حالیکه گذشته سیاه آنها در تجاوز بر حقوق بشري، جان و مال مردم ما بي سابقه بوده ، عدم وفاداري به منافع ملي کشور، به اجانب دول منطقه و حلقه هاي بین المللي جرأت بخشیده تا در امورات داخلي کشور ما مداخله هاي بي پرده، نمایند که البته این امر باعث رقابت هاي بي سابقه، میان دول منطقه به ارتباط کشور ما گردیده و سبب شده که باعث بي ثباتي منطقه گردد . که این خود بر بي ثباتي و استقرار صلح و امنیت جهاني هم بي تأثیر مانده نمي تواند و به اصطلاح پوزیشن موجوده آنها (ائتلافیون) هم قابل این نمیباشد که از آنها در آینده توقوع خیر، صلح و سلم گردد بلکه با اختلافات و رقابت هاي شدید قومي، ایدیالوژیکي ، سیاسي و مسلحانه میان هم روبرو میباشند که در این راستا از تجاوز بر مال و ناموس افراد همدیگر دریغ نکرده و حتي ادارات و سازمان هاي بین المللي به اصطلاح خیریه هم از دستبرد وسیع آنها در امان نمانده است ، با آنهم دیده میشود که جوامع و سازمان هاي بین المللي به شدت هر چه تمامتر در پي حفظ موجودیت و رشد آنها میباشند و علیه امارت اسلامي که واجد شرایط و مواصفات یك اداره شرعي و قانوني بوده مصروف صحنه سازي و تخریب میگردند ، طوریکه دستاورد هاي امارت اسلامي را در راه احیا و حفظ حقوق بشري در بیشتر از ۸۰ فیصد خاك کشور ما به تعبیر و تفسیر خود ها که یك تعبیر کفري و مخالف عنعنات سالم ملي ما میباشد وارونه جلوه داده مخالف حقوق بشري به خصوص در مورد زنها میدانند . مشکلات و پرابلم هاي موجود در کشور ما را که واقعاً ملت را رنج میدهد – که زاده و میراث ادارات کمونیستي به خصوص اداره شر و فساد ائتلافیون شمال میباشد– به امارت اسلامي منسوب کرده و زاده ناتواني هاي اداره حکومتي آنها میدانند و امارت اسلامي افغانستان را که با عدم موجودیت و صفر بودن امکانات مالي و تخنیکي خویش در بیشتر حصص خدماتي براي مردم خود مصدر خدمت هاي قابل ملاحظه شده اند فاقد پروگرام و پلان هاي مفید و مثبت در عرصه هاي زندګاني مردم جلوه میدهند .

از جانب دیگر مشکلاتي را که مردم بیچاره مناطق تحت سلطه عناصر شر و فساد به آن مواجه میباشند به امارت اسلامي نسبت میدهند طوریکه : کمبود مواد غذایي و دارویي مناطق مرکزي (بامیان و هزاره جات) را به سبب راه بندي از طرف امارت اسلامي میدانند در حالیکه مناطق متذکره در گذشته ها حتي در حالات عادي به همچون مشکلات نسبت قلت ساحات کشت، سردي هوا و عدم مساعد بودن شرایط ترانسپورتي بار ها مواجه گردیده اند و خاصتاً در این چار پنج سال گذشته که مناطق مرکزي به خصوص کابل صحنه برخورد هاي شدید میان ائتلافیون شمال بوده ولایات و ساحات کشور میان آنها تقسیم بندي شده و به تحریم ها ومحاصره هاي شدید علیه همدیگر مواجه گردیده بود و همین اکنون بامیان و مناطق مرکزي در محاصره اقتصادي گروه هاي ائتلافي قرار دارد نه در محاصره امارت اسلامي، تمام راه هاي اکمالاتي زمیني و هوایي شمال به بامیان و مناطق مرکزي در اختیار گروه هاي ائتلافي شمال قرار دارد اگر آنها بخواهند به سهولت میتوانند به بامیان و هزاره جات آنچه لازم است برسانند طوریکه به پیمانه وسیع مواد و ذخایر نظامي میرسانند . یك دو راه منتهي به بامیان و هزاره جات که در اختیار امارت اسلامي قرار دارد و نسبت ملحوظات امنیتي و نظامي مشروط، مسدود گردیده اگر سازمان ملل و یا سایر نیرو ها به امارت اسلامي تضمین و اطمینان عملي بدهند که مواد خوراکه به مردم مستضعف ملکي آنجا میرسد نه به نظامي هاي شر و فساد و بعضي از دول منطقه از سهولت هاي که در اختیار مردم آنجا گذاشته شود استفاده براي اهداف شوم خود نمي نمایند امارت اسلامي یکي دو راهي را که در اختیار دارد همه جانبه به باز بودن آن موافقه نشان خواهد داد .

باید دانسته شد که ایجاد غوغاي ترازیدي مناطق مرکزي از جانب سازمان ملل و سایر مخالفین منطقوي و بین المللي امارت اسلامي یك صحنه سازي غرض تخریب امارت اسلامي در اذهان عامه ملي و بین المللي میباشد و کوشیده میشود که عواطف بشري را علیه امارت اسلامي به کار گرفته به نفع اهداف مرموز و علني خویش از آن استفاده برند، اگر چنین هدف در میان نباشد سازمان ملل میتوانست مدت ها قبل از فرا رسیدن فصل زمستان و ایام ریزش برف به سهولت هر قدر مواد خوراکه و دارویي که به مناطق متذکره برساند، رسانیده میتوانست و هیچ ضرورت و احتیاج به ایجاد همچون تبلیغات گسترده و صحنه سازي ها نبود . به وضوح معلوم میگردد که هدف سازمان ملل رفع و سبك ساختن ترازیدي آن مناطق نبوده بلکه اهداف شوم و کفري به خصوصي در میان میباشد اگر چنین نیست چرا در کنار بامیان و هزاره جات مناطق وسیعي کوهي و کم غله غوربند ها که همه جانبه از طریق زمین و فضا در محاصره اقتصادي شوراي نظار و گروه مفسد وحدت قرار دارد و ده ها طفل، زن و مرد از قلت مواد خوراکه ،دارو و سوخت به هلاکت میرسند براي یکبار هم سازمان ملل از وضع رقت بار اوشان یادي به زبان نمي آورد و اشك تمساح نمیریزد و از ائتلاف شمال نمي خواهد که راه را بروي کاروان هاي امداد باز نگهدارد و به صد ها فامیل بیچاره غوربندي مهاجر که به شکل نهایت رقت بار در شهر کابل که در هیچنوع راه بندي قرار ندارد کمك لازم نمي رساند و یا یادي از محاصره و راه بندي مردم شریف کتنز نمي نماید و از ائتلافیون نمي خواهد که راه اکمالات زمیني را به رخ مردم مظلوم کتنز باز نگهدارند . و یا یادي از مردم مظلوم بدخشان که در وضع نهایت فلاکت بار قرار دارند به میان نیاورده و عملاً داخل اقدام غرض کاستن مشکلات آنها نمیشوند؛ این همه نشان میدهد که آنها در غم ما نه بلکه در غم و هم خود بوده غم و درد ما را پرده به رخ غم و هم خود مینمایند از شاخچه خودمان دسته براي تیشه خود ساخته و به ریشه، مان حواله میدارند وا اسفاه

د اوونۍ طنز

ح-حق

د سولي او خبرو اترو کاروان

د پروفیسور برهان الدین ربانې اخباري مرکه، (پېښور د جدي میاشت)

پوښتنه : ښاغلي پروفیسور پاکستان ته ښه راغلاست! دا چه تاسو څو کاله وروسته بیا دلته تشریف راوړي څه احساس لري!

ځواب : د پېښور هوا د پخوا پر خلاف پخه ښکاري، څو په عمومي توګه په پاکستان کي سیاسي فضا راته ګرمه ښکارېدې، زه امید لرم چه خداي ج د پاکستان د مشرانو په زړونو کي د رحم اوبه توي کړي تر څو پاکستان زمونږ د قانوني، پراخ بنسټه او بي پلازمېنې حکومت د سرنوشت په ټاکلو کي خپله ونده سرته ورسوي.

پوښتنه : په دي تاریخي پړاو کي د خپل قانوني دولت اړیکي له اسلامي هیوادپاکستان او ایران سره څرنګه څیړئ؟

ځواب : له ایران سره زمونږ اړیکي پخوا څخه ډېري حسنه او د دوستي او وروروګلوي دي ایران زما د ځلور کلن حکومت په دوران کي زمونږ د خدمتونو په ویاړ یو تلویزیوني فلم «کربلاي غرب کابل» په نامه جوړ کړ، په دا وروستیو کي دا اړیکي تر پخوا هم ښې شویدي او ایران که زمونږ د پخواني صدراعظم د دوهم کور حیثیت لري خو مانه د لومړي کور ځاي لري. موږ د ایران په مرسته د افغانستان مظلوم ملت ته ډېر خدمتونه کړېدي، او انشاء الله دا ورځ لیري نه ده چه زمونږ د قانوني دولت په افتخار به د «کربلاي افغانستان» فلمونه جوړ شي .

د پاکستان د اسلامي هیواد په هکله باید ووایم چه د پاکستان مسلمان ملت د جهاد په وختونو کي د افغانستان د مسلمان ملت سره نه هیرېدونکي مرستي کړېدي او زما قانوني دولت چي کله د کابل واګې په لاس کي واخیستل د پاکستان وروړ هیواد د میلمنیا و او مرستو په بدل کي مو د دوي سفارت په کابل کي وسوځاوه . او هم مو د پاکستان د سفارت د دوو کارکوونکو په وژلو باندي خپل د ښه ګاونډیتوب او اسلامي اخوت ارادت وښوده زه په دي عقیده یم چه د پاکستان مشران باید زمونږ دغو کارونو ته د قدر په سترګه وګوري، ځکه که موږ د پاکستان پخواني زوړ شوي سفارت نه واي سوځولي نو په نن څرنګه د وزیر اکبر خان په مینه کي نوي او ښکلي ماڼي د خپل سفارت لپاره تر لاسه کړي واي !

پوښتنه : خپل د قانوني دولت اړیکي واسلامي نړۍ سره څرنګه څیړئ !

ځواب : موږ د اسلامي نړۍ د اکثرو هیوادونو سره ښې اړیکي لرو، او ددي ادعا ښه مثال د روسیي او هند د هیوادونو سره زمونږ نږدې او خاصي اړیکي دي حتي په دي وروستیو کي موږ د اسلامي نړۍ سره د خپلو اړیکو د پراختیا په خاطر د اسرائیلو صهیونیست دولت ته هم وراندیز کړي دي چه موږ ته دا تاریخي افتخار را په برخه کړي تر څو د دوي رژیم په رسمیت وپېژنو .

پوښتنه : ښاغلي پروفیسور ! تاسي په دي وروستیو کي د ایران په هیواد کي د اصفهان او تهران په کنفرانسونو کي ګډون درلود ددي کنفرانسونو اهمیت او پریکړي د افغانستان په هکله څرنګه ارزیابي کوي !

ځواب : د اصفهان د کنفرانس په هکله ما خپل نظر په وضاحت او مشرح ډول سره د «شما تشویش نکنید» تر عنوان لاندي بیان کړېدي . ګمان کوم پورته مطلب د شریعت په اوونیزه کي هم نشر شویدي . خو د تهران د کنفرانس غوره او تر ټولو مهمه لاس ته راوړنه دا وه چه هلته موږ او ایرانیانو له یوي خوا د طالبانو تحریك ته ډېر شکنځل او بد و رد وویل او له بل پلوه موږ د ایران ایت الله ګانو په مرسته او غوښتنه د افغانستان لپاره یو سرستندوي صندوق جوړ کړ چه انشاء الله دا صندوق به په افغانستان کي د جنګ او جګړو د دوام او د هیواد د پاتي ښارونو او اقتصادي پروژو په خرابولو کي ډېر موثر او کاري تمام شي. او هم به زمونږ دوست هیواد ایران نور مجبوره نه وي تر څو په افغانستان کي د وروڼو او مسلمانو افغانانو د جنګولو او جګړي د دوام لپاره د خپل جیب نه پیسي خرڅي کړي

پوښتنه : جناب پروفیسور په دي وروستیو کي ستاسي د هیواد د شبرغان په ښار کي کله چه تاسو پخپله هم هلته تشریف درود په زرګونو طالب العلمانو په وله ایزه توګه شهیدان شویدي په دي هکله تاسو څه وایاست؟!

ځواب : دا قتلونه د ایران او روسیي په غوښتنه او د هغوي د خوشحالولو لپاره زمونږ د باندینو چارو د وزیر ملك جلاد خان لخوا سرته رسیدلي دي او ګمان کوم ددې قتل عام انګیزه د مزاري وژنه لحو کاله پخوا، او د ډیرك قلبي سکته بدي اواخرو کي وه . په هر صورت موږ په همدي خاطر ملك جلاد خان د وزارت د پست نه لیري کړېدي تاسو ته څرګنده ده چه زمونږ قانوني اسلامي حکومت په کابل کي شپیته زره مسلمان هیواد وال په قتل ورسول او زمونږ لوي قومندان په دي وروستیو کي په پنجشیر که په سلګونو اسیر شوي طالبان په ډېر مهارت سره په ډول ډول شکنجو ورکولو سره په قتل رسولي دي خو تر اوسه کوم چا د انتقاد ګوته زمونږ خواته نه ده نیولي . اما د ملك جلاد خان په امر د ډیرو زرو مسلمانانو د قتل نه د ګرکي ملي ماتم او رسوایي تولو نړي لرزولي ده . ښکاره ده چه په داسي بي مهارته وژنو باندي دا سړي فعلاً زمونږ سره د وزارت د پست لیاقت نلري، موږ دا نالایقه سړي د بي ګناه انسانانو د وژني په فن کي د عالي زده کړو او خاصو مهارتونو د لاس ته راولو لپاره د ایران دوست هیواد ته لیږلي دي . د هغه نشتوالي د اندیښني خبره نه ده ځکه دلته موږ ډېر داسي ماهر او با تجربه جلادان لرو چي د بي ګناه انسانانو د وژني لړۍ یي همدا اوس هم ګرمه ساتلي ده .

پوښتنه : د طالبانو د اسلامي تحریك څوال څرنګه ارزیابي کوي او ستاسي په نظر آیا اسلامي امارت قانوني حیثیت لري ؟

ځواب : د طالبانو تحریك خو په دي وروستیو کي ډېر ضعیف شویدي، ځکه سربېره پر هغه چه دوي د هیواد د سلو نه اتیا برخه په خپل لاس کي لري، زما د ژوکرپي ولایت بدخشان کي یي هم یو لږ توجه وړ پرمختګو نه کړیدي . همدغسي باید اضافه کړم چه اسلامي امارت هیڅ قانوني حیثیت نلري . ځکه چي زمونږ د قانوني حکومت له اجازي او مشوري پرته یي د هیواد په لویه برخه کي سوله امنیت او شرعي نظام ټینګ کړي دي .

پوښتنه : د طالبانو ددي وړاندیز په هکله چي باید د افغانستان ټولي شخړي او لانجي د دیني منل شویو علماو د خبرو اترو او فیصلو له لاري حل و فصل شي، ستاسي ځواب څه دي !

ځواب : دا ډېره غیر منصفانه وړاندیز او غوښتنه ده . تاسي خپله سرچ وکړي څرنګه به زه وکولاي شم چي زمونږ د قانوني پراخ بنسټه حکومت ملحدینو، جلادانو، ګلم جمانو ، او وطن دښمنه میخ ټکوونکو په میخ کې دیني علماو موسم تر څو له اسلامي ځلورم میخ!

وجیزه ها در مورد ده چیز

ده چیز است که در صورت مداومت منع می کند ده چیز را یعني ده چیز محموده است که دفع می کند ده چیز مذموم را .

اول : سوره فاتحه (الحمد شریف) منع می کند یعني دور میناماید غضب خداوند «ج» را .

دوم : سوره (یس شریف) منع می کند یعني دور میناماید تشنه گي روز قیامت را

سوم : سوره (دخان شریف) منع می کند یعني دور میناماید ترس و هیبت محشر را

چهارم: سوره (تبارك الذي) منع می کند یعني دور میناماید عذاب قبر و تاریکي آنرا درصورت مداومت از طرف شب .

پنجم :سوره (واقعه شریف) منع می کند یعني دور میناماید فقر و ناداري را در صورت مداومت در بین نماز شام و خفتن .

ششم : سوره (کوثر شریف) انا اعطیناك الکوثر منع می کند یعنيْ دور میناماید خصومت را ضرر خصومت کننده را .

هفتم : سوره (کافرون) قل یا یها الکافرون منع می کند یعني دور میناماید کفر و شرك را اعتقاد آنرا از قلب .

هشتم: سوره اخلاص(قل هو الله احد شریف) منع می کند یعني دور میناماید نفاق و منافقت را .

نهم : سوره فلق (قل اعوذ برب الفلق شریف منع می کند یعني دور میناماید حسد را یعني ضرر حسد کننده را .

دهم : الناس (قل اعوذ برب الناس) منع می کند یعني دور میناماید وسوه شیطان را .

از فرموده هاي گهر بار رسول الله «ص»

* * * * *

از شقیق بلخي «رح» صوفي مشهور روایت شده است که روزي مردم شهـــــر بصره نزد عارف معروف حضرت سلطـــان ابراهیم ادهم «رح» رفته سوال نمودند که چرا دعا هاي ما قبول نمي شـــود ؟ و یا اینکه قبولیت آن به تاخیر می افتد ؟

فرمودند که : قلب هاي شما قرباني ده چیز گردیده است هر وقتیکه ازین ده چیز پاك گردد آنوقت لطف خداوند «ج» شامل حال تان گردیده و آنگاه دعا هاي شـــما بدرگـــاه رب العزت قبول میگردد.

۱ - خداوند«ج» را به معبودیت شناختید ولي حق و وظیفه بندگي خویشرا بجا نیاوردید.

۲ - قرآن شریف را تلاوت می کنید مگر بدان عمل نمي کنید.

۳ - دعواي محبت رسول اکرم «ص» را دارید ولي سنت او را ترك نمودید.

٤ - مي گوید با شیطان دشمني داریم ولي در عمل از آن اطاعت مي نماید.

٥ - ادعاي دخول جنت را دارید ولي براي حصول آن عمل نمي کنید.

٦ - میخواهید از آتش دوزخ نجات یابید ولي خود را دوستـــانه در آن مي اندازید. یعني اجتناب از اوامر پروردگار عالم«ج» در نظر نداشتن و ساده پنداشتن بعضي منکرات زمینه دخول (دوستانه) را در دوزخ فراهم مي سازد.

۷ - گفتید (میگوید) که مرگ حق است اما براي آن آماده گي ندارید.

۸ - به عیوب دیگران پرداختید مگر عیب هاي خویشرا فراموش نمودید.

۹ - مرده گانرا دفن کردید ولي از آن عبرت حاصل نکردید.

۱۰ - از نعمت هاي بي پایان خداوند«ج» خوردید و بهره مند گردیدید مگر شکر آنرا بجا نیاورید.

(اقتبـــاس از تذکرة الاولیـا شیخ عطار نیشاپوري)

همچنان در قبولیت دعـا ها به بارگـاه خداوند بـــــزرگ «ج» بدست آوردن رزق حلال از طریق کسب پسندیده کار و زحمت و لقمه ناني که از عرق پیشاني وآبله دست پیدا میشـود نهـــــایت رول قوي داشتـه زیرا عبادت را ده وجه است که نو وجه آن در رزق حـــــلال نهفته است . روایت نمـــــوده اند که یکي از صحابه جلیل القدر آنحضرت «ص» حضور حضرت عرض داشتند که مي خواهند دعایشان همیشه بدرگـــــــاه بي نیاز خداوند غفـــور قبول گـــــردیده یعني مستجاب الدعا باشند آنحضرت «ص» فرمودند که همیشه در پي رزق حـــــلال سعي نما تا مستجاب الدعوات گردي.

روستایي

د ادب مرغلرې

غزل

ملا اسد الله «حنیفي»

د اشنا فراق مې غشي په ځیګر ردي
لمدې غوبني مې د اور په سمندر ردي
له مري نه مې تیریږي جام د زهرو
وران کابل راته په زړه باندي خنجر ردي
اوارة یمه د خپل وطن په غیر کښي
رقیبان راته د امو نه لر اوبر ردي
د بابا ځګه شمله به نیټه نه کړم
که جهان مې وچ هډوکي په مجمر ردي
ما د خداي په مرسته نورا بورنه کړي
ملحدین به په پښو کي راته سر ردي
"حنیفي" د ګران وطن په سمه غږ به
ستا حقیال وروڼه ګلونه په هنر ردي

کابل ۱۲/۱۰/۱۳۷٦

د روژې پیغام

س-ع

اختر به تولو خلکو هر ماښام دې د روژې
له سولي وررورولي نه ډك پیغام دې د روژې
نیولي یې چي د پاك الله په حکم او فرمان دي
په هغو مؤمنانو تل سلام دې د روژې
اجرونه د زحمت او ریاضت به ګي خپل وپني
هر چاچي اروېلي په سر جام دې د روژې
لمونځونه ، تراویح او عبادت به کي نه کیږي
د خداي په اطاعت کي لوړ مقام دې د روژې
غیبت، غلا و دروغ به کي له مخې ناروا دي
دا ځکه به هر چا ته احترام دې دروژې
په مور خان و غریب باندي بو شاني ده فرض شوي
ځه نه شان عدالت به خاص و عام دې د روژې
ثمر د زحمتونو به ضرور خوشحالي ګوري
اختر ځکه پیوسته په دوام دې د روژې
خیر چي شو د هر خوار و غریب له مجبوري نه
هر مور ته معاونت مرسته کلام دې د روژې
که وارو افغانان هم د روژې درښت به ځاي کړو
انشاء الله چي ورورۍ سوله انجام دې د روژې

حمد

قاضي محمد حسن «حقیار»

انځور د فن یې سترګو کي زما زړه ویستلي دي
دا خداي نه دي نو وایه خداي بي ځومره ښکلي دي !!
په نمه د ثواب بي ښکلوم وربښتینې زلفې
غلاف د کعبې هم وربوري چا ښیلی دي
بانه مې مقتدیان د ښکلي مخ محراب ته ټیټ شول
دي نور کي بي جانانه ستا تصویر لیدلي دي
خپل بوي او حسن تا کړلو بلا لختي د ګل نه
سلام ته د ازقي کله یورا راغلي دي
لیدو سره مې ستا د سترګو «کسې» کوه طور شول
ګودره بختورا نا بي خال کتلي دي
ستا سترګو کړي جانانه زما سترګي وري سترګي
احساس بي د عربت راته بخوا وژلي دي
له دوهره معرفت نه دي توبه چي زخم بي نه وي
استاد د فرښتو دي په لوبي زنلې دي
احساس مې د سجدو شو طوفاني د تندي بحره!
بیږۍ نه تقدیر دي کوم ساحل لیدلي دي ؟
تنها زه غلام نه یم د غاتول د ښکلي داغ
اشنا مې خپل بیاښت خپله به زړه داغلي دي
دا ځومره تعجب چي یار کړي مینه زه غرورا!
له ځان نه بیل اشنا وایه چي چا زغملي دي ؟
له عالم ناسوت نه د لاهوت مقام ته وحوت
ستا عرش شو ورته فرش یار مې ترې پورته تللي دي
توحید بي زمزمه د هر یو تال د موسیقۍ وو
ښکاري د زړه مارغه دي د «حقیار» ویشتلي دي

ژمي او یتیم

ګوهري

بیا په سیینو واورو پټ شول د وطن غرونه راغونه
ونو، بوټو هم په تن کړل بیا د واورو کفنونه
ټول وطن په واورو پټ شو نه زنبق نه شقایق شته
حروبي وارد کنګل دي نه چمن شته نه ګلونه
نه بلبل شته نه طوطي شته نه بیارو نه تونکي شته
ونو چوپه خوله‌نیولي راته نه وایي حالونه
د زړي کلا بخوا کي یو ماشوم هلته ولاړ دي
تې بوتونه نه کرتي شته لوځ لغړ بې اندامونه
بیر سر بي ډك له خاورو یري له باسه واوره اوري
له بخې نه بي مخ شین دي چاودي پښي چاودي لاسونه
یو کمبس بي دي په ځان کي هغه هم دي دانګي دانګي
دواړه ژامي بي ښتي له خولي نه باسي اهونه
په خوږ هیڅ نه وایي چوپ دي خو د حال په ژبه وایي
نه مې پلار شته نه مې مور شته نه مې خوبندي نه وروڼه
ځان ته یاتي یم یوازې دي شجنه دنیاګي کي
که مې خپل دي که پردي دي ټول پر ما کړي مستونه
د هغې خاوري بچي دي خو دي خاوري پردي کړي
د هستوګني ځاي بي نشته په صحرا کوي ویرونه
نه چا خواته رانږدي که نه چا پورته که په غیږ کي
نه بي اوښکي کړي چا پاکي نه یې ځار شته نه نازونه
«ګوهري» دا ځلك نه دي په ایرو کي پټ ګوهر دي
که چا پورته که له ځمکي ترې به وباسي لالونه

کورنی فقه

۱۸

د حائضي او نفاسي ښځي لپاره د روژي حکم

قاضي محمد حسن "حقیار"

د کورنۍ فقهي درنو مینه والو !

ځرنګه چي د رمضان مبارکه میاشت روانه ده نو وموغوښتل چي د کورني فقهي په کالم کي درنو لوستونکو ته ددي مبارکي میاشتي له تقاضا سره سم د روژې په هکله یو څه ضروري لنډ معلومات وړاندي کړو . او تیره سلسله په مؤقتي (لنډ مهالي) ډول قطع کړو . ځرنګه چي د روژي په هکله ډیر ځه لیکل شوېدي نو موږ په د اخبار له حوصلي سره سم هغو موضوعاتو ته په لنډ ډول ځاي ورکړو چي په کورني ژوند کي ورته ورځني اړتیا لیدل کیږي نو له هندي کبله د روژي له مقدماتي مسایلو لکه د روژي تعریف، شروط، حکم، فضیلت، د روژه خور دنیوي او اخروي سزا، د روژي حکمت، د روژي غوښتني او د داسي ځنو نورو مسایلو له تشریح او توضیح نه د موضوع د اوږدوالي له ویري ډډه کوو دا دي په لومړي برخه کي مو د حائضي او نفاسي ښځي لپاره د روژي حکم او ځنو نورو مسایلو ته ځاي ورکړېدي .

ددي لپاره چي د موضوع په مفهوم او محتوي مو سر ښه خلاص شوي وي ښه په دا وي چي دا دري ښځـــــینه ناروغي (حیض، نفاس او استحاض) چي تقریباً اکثره خوېندي ورسره اشنا هم دي په لنډ ډول د فقهي په رڼا کي وپیژنو .

الف : حـیض : د حنفي فـقـهي په معتبر کتاب هدایه کي لیکي چي : حیض په لغت کي وتلي وینې ته وایي او په البریقة شرح الطریقة کي لیکي چي حیض په لغت کي بهیدلو ته وایي .

او په اصطلاح کي: حیض هغې وینې تـه وایي چي د یـوې بـالغـې، روغـې او سالمې ښځي رحم بي شیندي.

د حیض کمه موده په حنفي مذهب کي دري شـــــپې او دري ورځې (پوره دوه اویا ساعته) او ډېره موده بي لس ورځي او لس شپې ټاکل شوېده خو که په کومې ښځې عـادتاً له لســو ورځـو نه ډېره وینه راتلله نو دا ډېري ورځي (د عادت ورځي) بي هم په حیض کي حسابیږي . او د طهر کمـه موده هم پنځلس ورځي ده (د طهر ورځي هغو ورځو ته ویل کیږي چي ښځه د حیض یا نفاس له وینې پاکه شي نو بیا تر بل حیض پوري دي منځینو پاکو ورځو ته دطهر ورځي ویل کیږي) مطلب دا شو چي یو ځل د کومې ښځي وینه وچه شوله نو بیـا کم تر کمـــه پنځلس ورځي به پاکي تیروي. او ډېره موده بي ټاکل شوي نه ده کیدلي شي چي میاشتي او کلونه هم دوام وکړي خو که له حیض نه د پاکي پنځلس ورځي پوره نه وي او بیـا په ښځـه وینه راغلله نو دا استحاض ده .

ب : نفـاس : دا هغـه وینه ده چي د ولادت (زیږولو) څخه وروسته بي د ښځې رحم شیندي. هدایه

دنفاس که موده شریعت نه ده ټاکلي او وروستي نیته بي ٤٠ شپي او ورځي ډه . که له ځلوېښت شپو او ورځو نه مریضي ډېره شي نو ډېري ورځي بي په استحاض کي راځي .

ج : استـحـاض : کـه په ښځـو میاشتیني عادت راغلي خو وینه له دري شپو او ورځو (پوره دوه اویا ساعته) نه کمـه وه یا د حیض په ورځو کي وینه له لسو شپو او ورځو یا د ښځې د عادت له ورځو یا په نفاس کي له ٤٠ شپو او ورځـو نه وینه ډېره شـوه نو دا کـمې او ډېري ورځي ټول په استحاض کي راځي . همدا راز که په کومې انجلي له نهه کلنۍ نه مخکي وینه راغلله یا په سن الیـأس(د اولاد نه د ناهیلي په کلونو کي) چي اکثره فقهاً دا موده ٥٥ کاله ګڼي په کومې ښځي وینه راغلله نو دا هم استحاض دي . کتاب الفقه علي المذاهب الاربعة ج اول

په استحاض کي لمونځ ، روژه د قرآن تلاوت ... هر ځه صحیح کیږي خو دا چي د هر لمانځه لپاره به تازه اودس کوي . کـه استحاضـه ښځـه دوامداره مریضـه وي نو هره میاشت کي بي لس ورځي یا د عادت ورځي (که کومه ښځه خـاص عـادت ولري) په حیض کي حـــــابیږي او نوري ټول ورځي بي په استحاض کي حسابیږي او که په نفاس کي وینه په وروستي نیټي (٤٠ شپو او ورځـو) وروآوښته نو ځلوېښت ورځي به په نفاس او پاتي بي په استحاض کي حسابیږي .

د روژي د صحت یو شرط له حیض او نفـاس نه پاکـوالي دي یعني په حایضې او نفاسي ښځي روژه فرض نه ده او که روژه ونیسي نو صحیح کیږي هم نه. کتاب الفقه علي المذاهب الاربعة ج اول

او کـه روژه بي ونیوله نوباطله او حرامه ده او افطار پري واجب او قضا پري لازمه ده کشف الحقایق جلد اول

او د مســافر په ځیـر هم نه ده چي نیول بي ورته عظیمت او خوړل بي ورته رخصت وي. په حایضي او نفاسي ښځي روژه فـرض نه ده او د پاکي(طهـر) په ورځـو کي به بیـا بوازي د روژي قضـا راوړي او کفاره پري نشته ده .

که کومې ښځي روژه نیولي وه او حیض پري راغي که هر ځومره ورځ تیره وي حتي که ماښام ته لږه شیبه هم پاتي وي نو دا روژه نه صـحیح کیږي کشف الحقایق جلد اول

همدا راز که کومه ښځه حایضه وه او د ورځي په جریان کي پاکه شوله نو ددي ښځي روژه هم نه صـحیح کیږي یعني که حایضه ښځه د سپیدو له ختلو ځو شیبي وروسته پاکه شوله نو ددي ورځي روژه بي نه صـحیح کیږي او قضا به راوړي خو امساك (دروژي ساتنه) په دي دواړو ښځو واجب ده خو امام شافعي وایي چي امســـاك پري نشتـــه - فتح القدیرجلد دوهم

او کـه ښځـه د شپي په وروستي برخه کي له صبح صـادق نه ځو لحظي مخکي هم پاکه شي نو روژه پري فرض ده که ځه هم د حیض یا نفاس نه د پاکي غسل بي نه وي کړي .

که کـومـه ښځه روژه وه او حیض پري راغي نو روژه بي ماته شوله که ځه هم تولـه ورځ بي ځه خوړلي نه وي نو که روژه بي فرض یا واجب وه نو قضایي هم فرض یا واجب ده او که روژه بي نفلي وه نو قـــضــــایي واجب نه ده کشف الحقایق جلد اول .

په دي هکله ګڼ روایات راغلي دي چي په حایضي او نفاسي ښځي یوازې د روژي قضـا شته او د لمانځه قضـا پري نشـتـه ده حضـرت عـایشـه «رض» روایت کوي چي له مـــــوږ نه به چي ځوك د رســــول الله «ص» په وخت کي حیض نه پاکـــــه شوله نو یوازې د روژي قـضـاً به بي راوړله او د لمانځه قضاً به بي نه راوړله

په فـتح القـدیر کي بي لیکلي دي چي: که کومي ښځي عمداً روژه وخوړله او بیا په هندي ورځ پري حیض یا نفاس راغي نو دا ښځه به یوازي قضـا راوړي او کفاره پري نشته ده .

زنان برگزیده جهان اسلام

حضرت فاطمه زهرا «رض»

۸

در زنده گی خانواده گی

پوهیالی لیلما «یما»

زنده گي خانواده گي حضرت فاطمه، زهرا «رض» چون زنده گـــــاني پدر بزرگوارش ساده و بي پیرایه بود . اما به اثر تعالیم حضرت پیامبر اسلام دریافته بود که خانواده نخستین سنگ بناي جامعه به شــــمار میـرود ، هر قـدر تهـداب آن مستحکم و استوار باشد به همان اندازه استحکام خانواده گي پدیدار میگردد .

حضرت پیـامبر اسلام نکاح جگر گوشه خود فـاطمـه، عـزیز را با دست پرورده، خود حضرت علي شیر خدا که چون جان خود عزیزش میداشت، بست. و مهر وي را بهاي زره حضرت علي «رض» قرار داد تا باشد سر مشقي گردد براي امتش. که دختران را چون متاع دنیایي در مـقـابل مـادیات نفـروشند و در برابر، فرزندان خود را هدایت و رهنمایي کنند و براي تشکیل خـانـواده تازه و زنده گي مشترك عیار و آماده سازند.

حضـرت فـاطمـه زهرا دخت گرامي سـرور کـاینات یازده سـال در زنده گي مشترك با حضرت علي «رض» به سر برد. او در این مدت کوتاه چنان شالوده، یك خانواده سالم اسلامي را بنا نهاد که تا به امروز میتواند به عنوان یکي از بهترین الگو ها مورد تقلید مسلماناني که تازه تشکیل زنده گي مشترك میدهند، واقع گردد.

زنده گي خانواده گي حضرت فاطمه «رض» را میتـوانیم در دو بخش مـورد تحلیل و ارزیابي قرار دهیم : یکي بخش تنظیم امـور خـانواده گي و دیگر بخش تربیه اطفال.

حـضـرت فـاطمـه، زهرا «رض» با وجودي که عزیز ترین موجود نزد پیامبر «ص» بود ، هیـچگاهي چون دخـتـران نازپرورده، عده یي از خانواده هاي امروزي از اجراي امور منزل امتناع نمیورزید حتي همه امور منزل چون دستاس کردن، خمیر نمودن آب آوردن، لباس دوختن، تنظیف خانه همه و همه را خود به تنهایي انجام میداد بي آنکه خم به ابرو آورد و یا منتي بر شوهر گذارد . حتي روایت است که در یکي از روز هایي که دستهاي حضرت فـاطمـه، زهرا «رض» از شدت کـار زیاد منزل درد مند شده بود ، وقتي حضـرت علي «رض» این حالت حضرت فـاطمـه، زهرا «رض» را دید برایش ناگوار تمام شد بنا" او را تشـویق و ترغیـب کرد تا نزد پیـامبـر «ص» برود و از وي درخـواست کنیزي کند . حضرت فاطمه، زهرا «رض» نزد پدر رفت . اما از حیـاي زیاد جرأت نکرد ، عرض مطلب نماید ، فرداي آن روز حضـرت علي «رض» به همـراهش رفت . باز هم حضـرت فـاطمـه، زهرا «رض» در حضـور پدر مطلب خویش را اظهار کرده نتـوانـسـت. ناچار حضـرت علي «رض» مقصـود را بیان نمود . حضرت پیامبر «ص» با وجودي که فاطمه ، زهرا را چون جان مبـارك خویش دوست میداشت، از بخشیدن کنیزي به وي امتناع ورزیده گفت : اینجـا کنیـزان زیاد موجود است ، اما حق اهل صـفـه که غـریبـان بي وطن اند نسبت به شما مقدم تر است .

[بروایت بخـاري و مـسلم شریف با تغـیــیـر اندك در الفــاظ و ابن قـیـم جوزي«رح» در زاد المعاد تفصیل مطلب فوق را چنین نقل نموده اند که مضمون آن چنین است ، هنگامیکه حضرت فـاطمه زهراه«رض» بخـاطر دریافت کنیـزي نزد رسول اکرم «ص» آمد ، آنحضرت در خانه تشریف نداشتند. دخت گرامي پیـامبـر اسلام از قصد خویش حضرت ام المؤمنین عایشه صدیقه «رض» را آگـاه نمودند. زمـانیکه رسـول کـریم «ص» در خـانه تشریف آوردند حضـرت عـایشـه جنـاب شانرا از آمدن و قصد فاطمه مطهره آگاه نمود . حضرت علي «رض» مي فرماید : حینکه آنجناب به خانه ما تشریف آوردند مـا در بسـتـر خـواب خـود بودیم و به اسـتـقبـا ل آن حضــرت از جـاي خـویش برخاسته براي ما فرمودند تا در بستـر خواب خود باید برویم همراه ما نشسته تا آنکه سـردي پاي وي را در سـینه خـویش حس نمـــودم . راجع به تقـــاضـــاي فاطمه«رض» فرمودند : آیا به شما چیزي را نشـان ندهم که از کنیـز(خادم) بهـتـر باشد آن اینکه حینیکه به بستر خواب رفتید پس ۳۳ بار سبحان الله،۳۳بار الحمد لله و ۳٤ بار الله اکبر را بخوانید] .

هدف پیامبر اسلام از دادن جواب رد در برابر خواست حضرت فاطمه، زهرا براي دریافت کنیـز ، این بود کـه کنیـزان را نمیشـود در اسلام به حسـاب شخصـي و فردي طوري که در نظامهاي برده داري و قیـودالي عده جاهلیت و دوره هاي بعدي از آن استفـاده میشد، مورد کار برد قرار داد؛ بلکه کنیـزان باید به عنوان افـرادي کـه میتوانند خدمات عامه را انجام دهند مطرح گردند و اهل صفه سربازان في سبیل الله راه اسـلام بودند خـانه و کـاشـانه یي از خـود نداشتند بنا" خدمات شان را کنیزان انجام میدادند، و از جانب دیگر حضرت پیـامبـر «ص» نشان داد با وجودي که محبت فوق العاده زیاد نسبت به فاطمه، زهرا داشت، باز هم فرزند او با سایر افراد جامعه حقوق مساوي و برابر دارند و از امتیازات بیشتر بر خوردار نیستند.

به همین ترتیب میـتـوانیم حضـرت فاطمه، زهرا را به عنوان مادر الگو و نمونه در جوامع اسلامي مورد مطالعه قرار دهیم و از عملکرد هاي آن پیروي نماییم.

ثمـره، یازده سـال زنده گي مشـتـرك حضرت فاطمه، زهرا «رض» با حضرت علي «رض» چهـار فـرزند بود ، حسـن «رض»، حسین «رض» زینب و ام گلثوم . حضـرت فـاطمه زهرا این چهار فرزند را با روحیه عـالي اسـلامي تعلیم و تربیت نمـود در پرورش جسم و عقل و روحشان لحظه یي فرو گذاشت نکرد . که بعد ها چراغ خانه ، پیامبر «ص» گشتند و در پخش و نشر پیام الهي کار و تلاش فراوان کردند تا اینکه به وسـیله بازمانده هاي عـهـد جـاهلیت یك پسرش توسط زهر شهید گردید دیگري در دشت کربلا جام شهادت نوشید.

حضـرت فاطمه، زهرا «رض» نه تنها پسران را با روحیه اجتـمـاعي و سـیـاسي تربیت نمود بلکه دخترانش نیز در امور سیـاسي و اجتـمـاعي به همـان راهي کـه حضـرت بي بي خدیجه، بي بي عـایشـه و خودش رفته بود ، گام میگذاشتند. چنانکه ام گلثـوم به عـقـد نکاح کسي در آمـد که گذشته از دوستي هایي که میان او پدر و مادر بزرگوارش و جد مبارکش وجود داشت یکي از شخصیتهاي بزرگ اسلام است که خدمات بسـیار برجسته یي در توسـعه و استحکام اسلام نموده است و لقب عادل را کمایي کرده است . از مطالعه زنده گي پر عظمت حضرت عمر عادل معلوم میشـود که تا چه اندازه ام گلثوم همســرش با او یار و یاور بوده است .

بي بي زینب «رض» دخـتـــر دیگر فـاطمـه، زهرا «رض» شخصـیتي است که مبـــارزات وي علیـه جـبـابره وقت (یزید) و همدستـان اش بعـد از حادثه، اسفناك دشت کربلا چیزیست که براي همه کسـاني که میخواهند از یك عقیده و آرمان دفـاع کنند و تا آخـرین لحظه تـسلیم نشوند، میتواند سر مشق و نمونه باشد.

حضرت فاطمه، زهرا «رض» در پهلوي انجام امور خانواده گي به وجه احسن، بعد اجتـمـاعي و سـیـاسي زنده گي خـویش را فـرامـوش نکرده بود وي تا آخـرین لحظات زنده گي اش به عنوان عـضـو فـعـال و پر تحرك در جامعه اسلامي مطرح بود. از این بانوي بزرگوار احادیث فراواني ذکر کرده اند. طبعاً بیان داشتن حدیث در ارتباط به موضوع از علمیت و دانش فوق العاده زیاد راوي آن حکایه میکند و حضـرت فـاطمـه، زهرا «رض» به چنین یك مقام بلند علمي ، سیاسي، اجتماعي و فرهنگي رسیده بود که از زبان پیامبر «ص» حدیث ذکر میکرد و همیار آن بزرگوار در زنده گي اش بود.

زنده گاني این بانوي بزرگوار اسلام به ما نشان میدهد که زناني میتوانند در اجراي امور خانواده گي خویش موفق گردند که از علمیت و دانش وافر برخوردار باشند و در پهلوي بعد شخصي و خانواده گي خویش بعد اجتـمـاعي و نوعي خود را فـرامـوش نکنند و بر اسـاس فـرامیـن الهي رسـالت و مسـولیت اجتماعي خویش را ادا سازند.

ابعاد مختلف زندگاني حضرت فاطمه، زهرا دخت گرامي پیامبر اسلام بهترین نمونه براي دخـتـران جوامع بشري، به خـصـوص جوامع اسلامي به شمـار میرود . دختران جـوامع اسـلامـي مـیـتـوانند با پیـروي از عـمـلکرد هاي این دخت گـرامي زنده گي خـویش را تعـالي و تکامل بخـشـنـد و به سعادت دنیوي و اخروي نایل آیند.

د اطلاعاتو او کلتور وزارت سرپرست محترم ملا امیر خان "متقي" له...

دوي خپله هم د افغانستان ورځني حالات څاري او څه نا څه زمونږ خبروني هم وررسیږي نو دوي په دي پوهیږي چي د افغانستان د ټولو دردونو او کړاوونو بواځني علاج او درمل د اسلامي شریعت تطبیق دي او د اسلامي شریعت په چوکاټ کي خلکو خپل ورځني ژوند هم پیل کړیدي امنیت په ټوله معنی نافذ دي، د ابادي چاري څه نا څه رواني دي، اقتصادي کاروانه هم روان دي، افغانانو ته روزګار هم پیدا شویدي او سرحدات مو هم خوندي دي، افغانستان ته د مجاز مالونو د تورید ټولي لاري خلاصي دي او د افغانستان کرهنیز محصول هم بهرته لیږدول کیږي چي د افغانانو د ژوند ویجاړ حالت ورسره رغیدلي او عزت او ابرو یې ورسره خوندي شویده نو په بهر کي میشته افغانان له دي ټولو حقایقو نه خبر دي او معلومات یې درلودل زه دا ویلي شم چي د پروپاګندیو اغیزه حتماً وه خو خوښ په دي یم چي دوي په خپله په حقایقو پوه وو او له تبلیغاتو نه ډیر اغیزمن نه وو .

پوښتنه : په دي هیوادونو کي میشته مهاجرین له کوم ډول ستونزو سره لاس او ګریوان وو ایا د دوي ستونزي روحي ستونزي وي که اخلاقي ستونزي وي؟ مادي ستونزي وي او که معنوي ستونزي وي ؟

ځواب: د دوي لویه ستونزه دا وه چي دوي خپله کاروبار او په خپل لاس د عاید لپاره څه وسیله نه درلوده او د اړوندو حکومتونو لخوا ورته راساً یو څه رقم ورکول کیده ځکه چي افغانان نه غواړي د بل چا لاس ته ناست وي او تل یې د خپلو لاسونو د تیاکو میوه خوړلي ده نو اوس چي د بل لاس ته ناست دي نو دا کار ځني افغانان ځوروي. بله خبره دا ده چي یقیناً هر مجلس تاثیر لري لکه چي رسول الله «ص» هم په خپلو ارشاداتو کي دي حقیقت ته اشاره کړیده نو هغه چاپیریال هم له دوي نه په ځنو او په ځانګړي ډول په ځوان کهول یو څه اغیزه کړي ده ځکه دوي هلته زده کړه کړي ده . په همداسي محیط کي روزل شوي دي نو دي چاپیریال ددي ځوانانو په کلتور او خوي باندي ډیر اغیز کړي وو نو دا تریخ حقیقت ددي ځوانانو د تجربه کارو او پوهو لویانو لپاره د زغم وړ نه وو او دوي پري ډیر خفه وو نو دا هم د دوي لپاره یوه ستونزه وه .

ددي تر څنګ په دي هیوادونو کي نافذو قوانینو هم افغانان له یو ډول روحي کشمکش سره مخ کړي وو مثلاً ددي قانون له مخي څوك نه شي کولي چي خپل زوي ته حتی د تادیب په غرض هم قهر او غوسه وکړي او څوك نه شي کولي چي د خپلي کورني په نورو غړو غوسه وکړي ځکه د دوي کلتور او اصول دا دي چي بیا ناراضه وګړي ته اجازه ورکوي چي له پلار یا سره نه بیل شي نو دي قانون هم افغانان له خفګان سره مخ کړي و .

همدا راز ځنو افغانانو دا شکایت هم درلود چي اړوند حکومتونه دوي ازاد مصروفیت او شغل ته لکه سوداګري او ... نه پرېږدي او په غیر مستقیم ډول یې دیته اړ باسي چي د هماغه هیواد له اتباعو سره د مزدور یا شریك په توګه کار وکړي .

دا چي مونږ د دوي د ستونزو په حل څومره قادر یو او څه کولي شو نو باید ووایم چي په کومو هیوادونو کي زمونږ خبرو ته غوږ ایښودل کیږي او وس مو بر وي نو له خپلو وروڼو او هیوادوالو نه خپلي مرستي او هلي ځلي نه دریغوو چي ژوندي مثال یې په سعودي عربستان کي د میشته و افغانانو پخواني ستونزمن ژوند دي . په سعودي کي هم افغانان له ستونزو سره مخ وو ، اقامې نه ورکول کیدلي په زوره له هغه هیواد نه راویستل کیدل چي سعودي ته د سرپرستي شوري د رئیس محترم الحاج ملا محمد رباني صاحب له سفر وروسته د هغوي ستونزي د سعودي له مقاماتو سره مطرح شوي او هغوي هم د سرپرستي شوري د رئیس په غوښتنه دوي ته اقامې او د استوګني اجازه ورکړه، نو چي کومو هیوادونو کي زمونږ په خبرو غوږ ګرول کیږي خپلي هلي ځلي نه سپموو او چیرته چي زمونږ خبره نه اوریدل کیږي او ټولي لري نه خو مونږ هم رسیدلي نه شو نو بیا بواځني علاج دا دي چي الله تعالی دي د اسلامي امارت د کبر وړ تنابونه د افغانستان ټولو برخو ته ورسوي چي په خپل هیواد کي په عزت او درناوي ژوند وکړو او د پردیو له احتیاج او چوړ نه خلاص شو .

پوښتنه : په بهر کي میشته و افغاني تکنوکراتانو، کارپوهانو او متخصصینو سره به مو هرو مرو کتلي وي اوس چي افغانستان کي د کار او ابادي لپاره هر اړخیزه زمینه برابره ده آیا هغوي ته مو هیواد ته د راستنیدلو ... ورکړیده؟ که ورکړي مووي نو بیا د هغوي غبرګون ستاسو د بلني په وړاندي څه وو ؟

ځواب : بلي په مختلفو غونډو کي مو له هغوي سره وکتل او هیواد ته د راستنیدلو بلنه مو ورکړه هغوي په خپله هم په دي پوه وو چي اوس د طالبانو اسلامي تحریك د وطن د بیا ابادي لپاره زمینه برابره کړیده او مونږ هم ورته معلومات ورکړل هغوي خپل ټاټوبي ته راستنیدلو ته ډیر لیواله وو خو یو ازیني شي چي د دوي او د دوي د هیلو تر منځ یې دیوال وو هغه اقتصادي اړتیا وي وي دوي ویل چي افغانستان کي زمونږ کورونه نړیدلي او د ژوند وسایل د پخوانیو ادارو په واسطه لوټ او تالان شوي دي نو که خداي «ج» مونږ ته وس راکړي یا اسلامي امارت په دي وتوانیږي چي دا ستونزي حل کړي نو مونږ خدمت خپل فرض بولو.

پوښتنه : داسي اوریدل کیږي چي هغه افغانان چي ډیر وخت یې د خپلي مور (وطن) له غیږي بیل تیر کړیدي په ځانګړي ډول ځوانان اوس د خپلي مور پسته او ترمه غیږه هیره کړیده آیا تاسي ته په هغوي کي له وطن سره د مینې ځرك تر سترګو شو ؟

ځواب : دا یو جوت حقیقت دي چي له خپل ټاټوبي سره مینه فطري ده ، وطن نه هیریدونکي دي خو دا چي دا لیلي په چا ډیره ګرانه ده نو له مجنون نه تر مجنون فرق وي ، خو په عمومي ډول چا چي هلته وخت ډیر اړولي وو یا هلته زیږیدلي وو نو د ځنو په هیواد مینو اشخاصو په پرتله «الف» وطن سره د مینې مینلي ډیروتنده نه وه او ځنو چي هلته یې تعلیم کړي و او خپل ژوند یې هم هلته یو څه جوړ کړي و نو د هغوي پلان دا وو چي ګانده ژوند هم هلته تیر کړي . خو په مجموع کي په دوي کي له وطن سره مینه وه .

پوښتنه : ایا دا مهاجرین د افغانستان د اسلامي امارت او په ځانګړي ډول د لیلي د سپیڅلو شهیدانو په اړه د واشنګټن او ملګرو ملتونو په دریځ قانع وو او که څه تیرکي یې ... پري لرلي.

ځواب : الحمد لله افغانان پوه خلك دي په تیرو دوه ولسیزو کي یې ډیري لوړي او ژوري ولیدلي، کافي تجربې یې تر لاسه کړیدي مونږ سره په بیلا بیلو غونډو او لیدنو کتنو کي دوي دا څرګنده کړه چي د افغانستان په اړه د واشنګټن او ملګرو ملتونو اوسني دریځ غیر منصفانه ده، دي افغانانو د دوي په قضاوت هم ډیر نیوکي درلودي او ویل یې چي دوي د افغان ولس سیاسي او تجارتي نمایندګي د افغان ولس دښمنانو ته او هغه چاته سپارلي چي هیڅ سیاسي او نظامي وجود نلري دوي د امریکا په حکومت لوي انتقاد دا هم درلود چي په امریکا کي د افغانستان سفارت چي تر څو د رباني له انډیوالانو سره وو نو دروازي یې خلاصي وي خو چي کله ددي احتمالات ډیر شول چي ددي سفارت کار کوونکو له اسلامي امارت سره خپل پیوستون اعلان کړي نو دا سفارت یې وتاړه خو په نیویارك کي یې افغان قونسلګري چي د تښتیدلي اداري افراد په کي کار کوي خلاصه پریښوده په ملګرو ملتونو یې هم دا انتقاد وو چي په نورو هیوادونو کي چي دوه تنه مړه یا ټپیان شي خو چي د دوي دوستان وي نو بیا د ملګرو ملتونو چیغي ټوله دنیا په سر اخلي خو په افغانستان کي دوه دري زره بې ګناه طالبان شهیدانیږي خو دوي پري خپل غوږونه کڼوي یا ددي لپاره چي ددي شهیدانو په درد د دردیدلو افغانانو په تودو جذباتو اوبه تویي کړي د پلټني او څارني هیئت په لیږلو اکتفا کوي او قاتلین د محاکمي میز ته نه راکشوي .

تاسي به هم اوریدلي وي چي په تیرو ورځوکي په لندن، امریکا جرمني او د اروپا په نورو هیوادونو کي ستري مظاهري او لاریونو ته تر سره شول او د ملګرو ملتونو له اداري نه یې د بې رحمه قاتلینو د محاکمي او دوي ته د جزا ورکولو غوښتنه وکړه .

پوښتنه : په مطبوعاتو کي راغلي دي چي د متحده ایالاتو دلچسپي له مسعود او دوستم سره ډیره شویده او غواړي چي د خپلو مرستو وزري پري ددي لپاره وغوړوي چي ایران پلوه وحدت ګوند پري له مزار نه وباسي تاسي په دي اړه څه وایي ؟

ځواب : زه دا ویلي شم چي د افغانستان په اړه د امریکا دریځ منصفانه نه دي ، په حقایقو سترګي پټوي مونږ چي ورسره کیناستلو او خبري مو ورسره وکړي نو له دوي سره قناعت بخښونکي دلایل هم نه وو زه دا نه شم ویلي چي دوي به له دي وروسته د افغانستان په هکله کومه پالیسي غوره کوي. که له یوي خوا دوي له ایران سره د دښمني شعار زمزمه کوي نو له بلي خوا د ایران اوسني حکومت له متحده ایالاتو سره ډیر نږدي شویدي خو دا چي دوي زمونږ د ملت دښمنان ځواکمنوي یا مرستي ورسره کوي اکثره افغانان هم په دي ګومان دي چي داسي حرکات به رامنځته شي چي د اسلامي امارت دښمنان به تقویه شي که څه هم زه په دي هکله باوري او مستند شواهد نلرم او څه نه شم ویلي خو دومره وایم ځرنګه چي لازم دي له اسلامي امارت سره هغوي داسي اړیکي نه دي ساتلي .

پوښتنه : محترم متقي صاحب ، حضرت صاحب صبغت الله مجددي په دي وروستیو ورځوکي په یوه مرکي کي ویلي دي چي طالبان ښه خلك دي خو دوي دده په اصطلاح د امریکا او پاکستان تر تاثیر لاندي دي تاسي دده د دراڅشانیو !! په اړه څه وایي؟

ځواب : باید عرض وکړم چي حضرت صاحب بیچاره ښه او نیك سړي دي مونږ د هغه په شخصیت کي څه نه وایو هغه د افغانستان یو سپین ږیري دي خو ځرنګه چي دده د ژوند تاریخ روښانه او ثابته کړیده چي دي د بیلا بیلو مجالسو تر اغیزي لاندي راځي او په یوه میاشت کي یې دریځ څو څو واره د سیوري په څیر بدلیږي کله نور خلك په خوله کي خبره ورکړي او بیا یې د ده له ژبي را باسي. ده په همدي ورځو کي شمال ته یو سفر درلودلو فکر کوم چي د هغوي سیوري پري شوي وي او د غونډو تر تاثیر لاندي یې راغلي وي او دا هم کیدلي شي چي د هغوي د ریاست جمهوري یا د کوم بل امتیاز په کاذبانه وعدو غولیدلي وي او امیدواره شوي وي. مونږ له حضرت صاحب نه خامخا ګیله من کیږو ده مخکي هم ویلي دي چي وحدت ګوند خپل ټول ځواك مانه راسپاري او جنبش هم له ماسره نږدي دي او نوري ولي هم دیته چمتو دي چي مانه واك او قدرت راوسپاري نو ولس له ده نه خامخا دا پوښتنه کوي چي ته خو یو وخت همدي خلکو منتخب کړي، واك یې درته وسپاره او دا ټول په دي کابل کي حاضر وو او بیا دي انجام دا وو چي د ارګ په څو کوټو دي هم واك نه چلیده هغه وخت کي چي ته جمهور رئیس هم وي نړۍ هم په رسمیت پیژندلی وي نو هغه وخت کي چي دوي له تاسره وفا ونکړه، ستا کړو وړو ته یې احترام نه درلود ، د یو ناوړه چلند په ترځ کي یې له کابل نه وویستي. هغه وخت کي چي ته جمهور رئیس وي نو رادیو د بل چا په نوم خپروني کولي ستا یو امر هم نه چلیده، د سپرلي الوتکه دي په همدي کابل کي وویشتل شوه ستا په موجودیت او ستا په ریاست کي ویني تویي شوي تا په خپله هم په ډیر جرئت اعتراف وکړه چي په کابل کي زما ریاست جمهوري هسي سمبولیکي بڼه درلوده او اصل واك له بل چا سره وو داسي چلند درسره وشو چي نه یوازي ستا بلکه د مجددي د ټولي کورني سپکاوي وشو. نو زه وایم چي حضرت صاحب باید له ده سره د خلکو هغه خصمانه روش، ناوړه عزایم او نیتونه هیر نکړي هغه بد فکرونه چي د نورو لخوا روزل شوي اوس هم هماغه خلك دي . همانغه جنبش دي همانغه وحدتیان او د نظار ډلګي ده چي ده یې یو ځل په موجودیت کي د ریاست جمهوري خوند څکلي دي نو دي باید دومره ژر خوش باوره نه شي او دومره ژر باید بدګومانه هم نه شي. دي قندهار ته هم راغلي وو د اسلامي امارت مسؤولینو یې ډیر احترام وکړ عالیقدر امیر المؤمنین ورسره وکتل او د ده درناوي یې وکړ نور هم وخت په وخت د اسلامي امارت مشرانو له ده سره کتلي دي خو البته دا یوه خبره یې ورته نده کړي چي مونږ تا د جمهور رئیس په منصب کینوو نو کیدلي شي چي دي په همدي ګیله من وي خو په اینده کي له ده څخه زمونږ هیله دا ده چي مجددي صاحب باید داسي کار وکړي چي د مجددي کورني او خانقاه د لامحبوبیت لامل وګرځي نور هم د خلکو په زړونو کي ځاي پیدا کړي او د افغانستان د ولس د دښمنانو په پروپاګند ونه غولیږي داخپل حیثیت او شخصیت هم په نظر کي ونیسي چي خداي ناخواسته بیا داسي بې حیثیته او بې قدره نه شي لکه یو ځل چي مخکي بې عزته شوي وو .

جهاد به منظور دفاع از حق و محو فساد بطور مستمر یك فریضه دیني میباشد

مخالفین امارت اسلامي افغانستان که عوام فریبي، تبلیغات کاذبانه دفاع از اسلام و مقدسات اسلامي و بهره برداري هاي سیاسي از این راه ها و بالاخره آماده گي براي جنگ هاي جدید، در پس پرده آتش بس هاي موقتي از حربه هاي استعمال شده و قبلي شان به خاطر ادامه چند روز بیشتر بر سر قدرت ماندن شان مي باشد. اکنون بار دیگر میخواهند تا با هیاهوي منافقانه یې حاضر بودن به آتش بس در ماه مبارك رمضان، در بدل ملیون ها دالري که از جانب باداران شان غرض تداوم جنگ و بر آورده شدن مقاصد شوم خود ها به آنها داده شده، قواي تازه نفس جمع آوري نموده مواد اکمالاتي و تسلیحاتي کافي بدست آورده سنگر هاي بدست داشته شان را استحکام بخشیده میخواهند که براي جنگ هاي خانمانسوز بعدي آماده گي کامل کسب نمایند. رباني سر دسته گروه هاي باغي شمال که با چندین بار تعهد و بعد عهد شکني در حدود چهار سال به کرسي ریاست جمهوري محصور در ارگ کابل چسپیده بود میخواست با اعلام این ابتکار کهنه !! توجه جهانیان و مقامات پاکستاني را حین سفر اخیرش به آن کشور در مورد عدم رضایت خود نسبت به جنگ جلب نموده و خود را به مقدسات اسلامي (احترام ماه مبارك رمضان) مخلص جلوه بدهد .

جهاد بر ضد کفر و فساد یك فریضه مقدس اسلامي بوده و ماه مبارك رمضان که اجر و ثواب اعمال نیك در آن چندین برابر داده میشود ، در این ماه مبارك فریضه جهاد و اعمال صالحه دیگر فیوضات بیشتر داشته و چندي از غزوات پیامبر اسلام «ص» بشمول غزوه بدر در همین ماه مبارك صورت گرفته است که این خود ارتباط ادامه جهاد را در ماه رمضان نمایان مي سازد بر علاوه از این امر، آنهائیکه به خاطر خداوند«ج» از جنگ دست نکشیدند ، آنهائیکه به قرآن شریف باز و برهنه شده وقعي نگذاشتند، آنهائیکه به اشك ، خون، ناله و فغان زنان، اطفال و پیر مردان بیچاره شهر کابل اهمیت ندادند و چندین رمضان ها را به جنگ ، قتل و غارت و تجاوزات مختلف بر این توده مستضعف سپري کردند و در جواب تضرع و اشك ریزي صد ها وفد علماي کشور ما و عالم اسلام هیچ توجه نکرده و از جنگ دست نکشیدند چطور حقیقت خواهد داشت که ماه صیام نزد شان کدام اهمیتي داشته و احترام آنها نسبت به این ماه مبارك از صمیم قلب و اخلاص کامل باشد کسانیکه از خداوند«ج»، قرآن عظیم الشان ، پیامبر بزرگوار اسلام و تعهد تاریخي نیمه شبي شان در خانه، خدا شرم و حیا نکرده و چندین سال به خاطر ادامه قدرت ظالمانه شان از قتل و غارت مردم دست نکشیده و به جنگ هاي غیر شرعي شان ادامه دادند ادعا هاي شان مبني به احترام به رمضان و پیشنهاد آتش بس موقتي در این ماه کذب و حیله محض بوده و یك وسیله براي آماده گی هاي بعدي و بهره برداري هاي سیاسي شان میباشد اگر چنین نیست پس چرا مسعود فرمانده و آمر نظامي استاد!! در حالیکه استادش پیشنهاد هاي آتش بس را زمزمه میکرد وي بر مناطق نجراب سرحدات تگاب و بگرام حملات جدیدي آغاز کرده و حلیفان دیگرش در قیصار، سرحدات قره باغ غزني و ولایت میدان دست به حملات جدید علیه سنگر هاي اردوي اسلامي زدند از این امر هویدا میگردد که هیاهوي اخیر آتش بس از جانب رباني در حقیقت بخشي از تکرار همان ستراتیژي هاي سابق ملیشه ها میباشد.

موقف امارت اسلامي افغانستان را در زمینه فوق محترم مولوي وکیل احمد متوکل سخنگوي تحریك اسلامي طالبان روشن ساخته و در مورد فرموده اند: «آتش بس هاي موقتي همیشه بنیادي براي جنگ هاي طولاني بوده، صرف آتش بس دایمي مشکلات مردم ما را حل ساخته میتواند. مخالفین ما با استفاده از آتش بس هاي موقتي به جمع آوري افراد، استحکام سنگر ها و اکمال ضروریات حربي مصروف میگردند بناً، براي یك آتش بس واقعاً دایمي، مخلصانه باید کار کرد و بدین منظور با تشکیل کمیسیون علما و تفویض صلاحیت هاي عام و تام به آنها قدم هاي عملي برداشت ».

واقعاً اگر کسي از صمیم قلب خواهان حل کشمکش هاي موجود بوده و اندکي ترحم به حال ملت مظلوم خود و ذره ترس از خداوند«ج» و روز آخرت نزد شان موجود باشد باید دیگر به بهانه هاي مختلف استفاده هاي سیاسي نکرده، به جنگ هاي بعدي زمینه سازي نه نموده و با اخلاص کامل زمینه را براي آتش بس دایمي که خواسته تمام ملت مجاهد ماست مساعد سازد آن زمان خواهیم توانست تا مشکلات عایده را حل و نظام سعادت آفرین اسلامي را در همه نقاط کشور پیاده سازیم .

د لیلي د دښتي ...

ملیشو د بې وطنه مشرانو په وړاندي زیاتیږي. په بهر کي هم د مهاجرو افغانانو د قهر او غضب څپې راپورته شویدي او د خپلو تیرو غونډو په دوام د لیندي د میاشتي په ۲۷ مه د عربي اماراتو په مرکز ابوظبي کي هم مهاجرو افغانانو د لیلي د دښتي په غمیزه خپل زیات خفګان څرګند کړ او د ملګرو ملتونو نه یې وغوښتل چي د لیلي د دښتي د بې ګناه شهیدانو قاتلان په سزا ورسوي. د بل خوا نه د لیندي په ۳۰ مه د آلمان د هامبورګ په ښار کي هم مهاجرو افغانانو غونډه وکړه او د لیلي د دښتي شهیدانو ته د درناوي په خاطر یې د قرآن عظیم الشان ختم وکړ او د شهیدانو روح ته یې دعا وکړه او د یو پریکړه لیك په ترځ کي یې د ملګرو ملتونو نه وغوښتل چي د بې ګناه طالبانو د وله ییزي وژني او شهادت له امله ددغه ستري غمیزي عاملین په سزا ورسوي .

د مرغومي د میاشتي په ۲ مه هم په لندن کي د افغاني مهاجرینو له خوا د لیلي د دښتي د غمیزي په اړوند یوه ستره غونډه وشوه او په دغه غونډه کي افغاني مهاجرینو د خپلو ویناوو په ترځ کي د لیلي د دښتي د بې ګناه شهیدانو طالبانو په قاتلانو ډیر بد وویل او د ملګرو ملتونو نه یې وغوښتل چي ددغي ناوړي او ناروا پیښي عاملین محاکمه کړي . په همدغه ورځ په قزاقستان کي د افغاني مهاجرو میرمنو د ټولني له خوا هم غونډه وشوه او زمونږ دردونو خویندو او میندو د بې ګناه طالبانو په وله ییزه مړینه او شهادت باندي خپله خواشیني څرګنده کړه او د ملګرو ملتونو د سرمنشي کوفي عنان په نامه یې یو لیك ولیږه او په لیك کي یې له هغه نه وغوښته چي د لیلي ددښتي عاملین په سخته سزا ورسوي. په افغانستان کي دننه هم د لیلي د دښتي د غمیزي د عاملینو دغندني په ترځ کي یو په بل پسي غونډي کیږي چي په دغه ترځ کي د مرغومي د میاشتي په پنځمه د جمعي په ورځ په جلال اباد کي د جمعي د لمانځه نه وروسته د جلال اباد یو زیات شمیر اوسیدونکو یو ستر لاریون وکړ او په خپلو نارو کي یې د ملګرو ملتونو څخه د دلیلي د دښتي د بې ګناه طالبانو د وله ییزي وژني د عاملینو محاکمه وغوښته او هم یې په واګه د ملګرو ملتونو څخه وغوښتل چي د افغانستان اسلامي امارت په رسمیت وپیژني.

همدارنګه د کابل د پل خشتي په جومات کي د پښه یې قوم د عالمانو له خوا هم یوه ستره غونډه وشوه چي د غونډي برخوالو په خپلو ویناو کي د لیلي د دښتي په غمیزه باندي خپل زیات خپګان ښکاره کړ . د پکتیکا ولایت دوازي خوا په ولسوالي کي هم د هغي ولسوالي د عالمانو او مخورو خلکو په ګډون یوه درنه غونډه جوړه شوه او د غونډي ویناوالو د لیلي د دښتي د بې ګناه طالبانو د وله ییزي وژني په قاتلانو لعنت ووایه او د هغوي محاکمه یې وغوښته . د مرغومي د میاشتي په ۷ مه د پاکستان د پیښور په الګونومي ځاي کي یو شمیر مهاجرو افغانانو د لیلي د دښتي د غمیزي د غندني له امله غونډه وکړه او د ملګرو ملتونو نه یې وغوښتل چي د بې ګناه طالبانو قاتلان یې له محاکمي پري نه ږدي او هم د د افغانستان اسلامي امارت په رسمیت وپیژني همدا راز د مرغومي په ۸ مه د پاکستان د پیښور په سپین جومات کي د افغاني مهاجرینو له خوا چي شمیر یې زرګونو تنو ته رسیده یوه ستره غونډه وشوه . په غونډه کي ویناوالو د لیلي د دښتي د بې ګناه طالبانو قاتلان وغندل او په دغه اړوندیې له ملګرو ملتونو څخه وغوښتل چي د افغانستان اسلامي امارت په رسمیت وپیژني ، نوموړي غونډه بالاخره په یوه ستره مظاهره بدله شوه او مظاهره کوونکو په داسي حال کي چي «مرګ په رباني او مرګ په ګلبدین» ناري یې وهلي د ملګرو ملتونو د دفتر مخي ته لاړل او د نوموړي دفتر په وړاندي یې بیا هم خپلي غوښتني په لوړ اواز تکرار کړي . د مرغومي په ۱۴ مه د کندز ولایت د خان اباد په ولسوالي کي د عالمانو او مخورو په ګډون یوه لویه غونډه وشوه د غونډي ګډون کوونکو د لیلي د دښتي شهیدانو ته دعا وکړه او د لیلي د دښتي د بې ګناه طالبانو د ستر قاتل ملك د محاکمي غوښتنه یې وکړه .

د افغانستان اسلامي امارت د اطلاعاتو او کلتور د وزارت سرپرست محترم ملا امیر خان متقي د مرغومي په څوارلسمه د لیري یکشنبي په ورځ په یو مطبوعاتي کنفرانس کي د خپلو مسلمانو خلکو په وړاندي د تاریخي او ملي مسوولیت په سرته رسولو سره د خپلو تیرو غوښتنو په دوام بیا هم له ایران څخه وغوښتل چي جنرال مالك ډیر ژر د افغانستان اسلامي امارت ته تسلیم کړي تر څو د افغانستان د خلکو په وړاندي د هغوي د کلکي غوښتني له امله د خپل بخښونکي جرم له امله په شرعي محکمه کي محاکمه کړي او که چیرته ایران دغه کارونه کړي ... راتلونکو ناوړه عواقبو مسولیت په خپله د ایران د واکمنانو په غاړه وي .

د لیلي د دښتي په غمیزه باندي د ټولو افغانانو خپګان ورځ په ورځ زیاتیږي او نن ورځ په بر څېر باندي ټول افغانان که د هیواد دننه او یا که بهر دي له ملګرو ملتونو څخه غوښتنه کوي چي د عدالت او انصاف نه کار واخلي او د بشر د حقوقو د لایحه تأمین له پاره باید ډیر ژر د دري زرو تنو بې ګناه طالبانو قاتلان چي په سر کي یې جنرال ملك دي د افغانستان اسلامي امارت ته تسلیم کړي او دا د افغانانو روا، قانوني او شرعي حق دي چي د خپلو بې ګناه طالبانو قاتلان په شرعي محکمه کي محاکمه کړي او که چیرته ملګري ملتونه په دغه برخه کي د پخوا په شان بیا هم خپل ځان ناخبره واچوي او د خپل نفوذ او خپل صلاحیت څخه کار وانخلي نو بیله شکه به د راتلونکو ناوړه عواقبو مسولیت د ملګرو ملتونو د سرمنشي کوفي عنان په غاړه وي.

د کندز د جبهاتو عمومي قوماندان امیر خان "...

لوستونکو پام ورته را اړوو .

پوښتنه : محترم حقاني صاحب ! په پیل کي لطف وکړي د شریعت اونیزي درنو لوستونکو ته د کندز ولایت د نظامي حالاتو په هکله معلومات ورکړي .

ځواب : الحمد لله فعلاً د کندز ولایت نظامي او امنیتي وضعه سل په سلو کي ښه او هم مخ په ښه کیدو ده زمونږ قوتونه چي ډیر ښه جنګي او تعرضي مورال لري د خپلو سنګرونو نه په کلکه دفاع کوي او د پرمختګ په حال کي دي. مونږ خپل ملت او نړیوالو ته په اطمینان سره ویلي شو چي د کندز ولایت خلك په دي پوهیدلي چي یوازي طالبان دي چي د اسلام مقدس دین پلي کوي او د خلکو هوساینه خپله دنده بولي او د خلکو د مال، سر او ناموس د خوندي کولو مسوولیت احساسوي. نو باید ووایم چي د کندز په ولایت کي نظامي اوضاع سل په سلو کي د طالبانو په ګټه دي او حالات بالکل عادي دي هرڅوك خپل ورځني ژوند کوي .

پوښتنه : د افغانستان د اسلامي امارت دښمنان داسي تبلیغ کوي چي ګواکي د طالبانو تحریك په کندز کي کمزوري دي او د دښمن په وړاندي د مقاومت توان نلري . په دي هکله ستاسي نظر څه دي ؟

ځواب : په دي کي هیڅ شك نشته چي الحمد لله دلته دښمن په خپله د مقاومت توان نلري نو مجبور دي چي د طالبانو په تحریك پسي بې اساسه او بې مسؤولیته خبري وکړي . د کندز په ولایت کي د طالبانو تحریك د خداي«ج» په نصرت سل چنده تر هغې زیات دي چي دښمنان یې وایي، نن په کندز کي د طالبانو تحریك دا ښودلي ده چي د افغانستان د خلاصون یوازیني لاره اسلام پېنګول او د شر او فساد له منځه وړل دي نو د همدي حقیقت په پوهیدو سره د کندز ټول مسلمان ولس او د کندز ټول هغه مجاهدین چي د کمونستانو او روسانو پر ضد جنګیدل چي شمیر یې په لس ګونو زرو تنو ته رسیږي د طالبانو د تحریك سره یو لاس شوي دي او د اسلام د دښمنانو پر ضد جنګیږي . همدارنګه د دښمن یو زیات شمیر جنګي افرادو او قوماندانانو هم د طالبانو د اسلامي تحریك سره خپل پیوستون اعلان کړي دي او د قوماندي په انتظار دي .

پوښتنه : لکه څرنګه چي معلومیږي طالبان په کندز کي د تخار په لور د پرمختګ په حال کي دي. تاسي ویلي شي چي ستاسي لومړي لیکه یا خط اوس په کوم ځاي کي دي ؟

ځواب : د بنګي خط چي له تخار سره اړیکي لري همدا اوس د طالبانو په لاس کي دي او په کلکه ورته دفاع کوي. زمونږ قوتونه همدا اوس د «خَین زي» په منطقه کي پراته دي او ضمناً باید ووایم چي په کندز کي مهم او اساسي خط یا جبهه د طالبانو او مخالفینو تر منځ همدا د بنګي خط دي .

پوښتنه : تاسي په راتلونکي کي نظامي اوضاع څنګه ګڼئ ؟

ځواب : لکه څنګه چي ما مخکي وویل چي د کندز ټول خلك او مجاهدین د طالبانو د اسلامي تحریك په حقانیت پوهیدلي دي او په کلکه ورته دفاع کوي نو مونږ ان شاء الله د کندز ولایت نظامي اوضاع په راتلونکي کي هم ښه ارزیابي کوو او په ډاډ سره ویلي شم چي د کندز ولایت نظامي اوضاع په اینده کي هم زمونږ په ګټه ده او انشاء الله ډیر ژر به په همدي نږدي راتلونکي کي د افغانستان اسلامي امارت خپل مسلمان ملت ته یو ستر زیري واوروي .

پوښتنه : تاسي د لیلي په دښته کي د طالبانو د وله ایز شهادت په هکله څه وایي ؟

ځواب : څرنګه چي تاسو ته معلومه ده ټولو خلکو د طالبانو دغه وله ایز وژنه یو ستر جنایت بللي دي، مونږ هم وایو چي دغه ستر جنایت داسي جنایت دي چي په بشریت کي یې ساري نه لیدل کیږي او یوه لویه بشري فاجعه ورته ویلي شو نو مونږ ددغو شهیدانو کورنیو او پاتي کسانو ته دا اطمینان ورکوو چي انشاء الله هرو مرو به دا قاتلان د خپلو اعمالو په جزا ورسیږي او د مسلمان ولس له منګولو نه هیڅکله هم خلاصیدلي نه شي .

پوښتنه : محترم قوماندان صاحب ! څنګه چي مونږ ټول خبریو رباني په همدي وروستیو ورځو کي پاکستان ته د افغانستان د لانجي د حل په خاطر یو خاص سفر درلود تاسي د هغه په سفر باندي څه تبصره کوئ ؟

ځواب : رباني تل ظاهراً ښودلي ده چي مونږ خبرو او مذاکري ته چمتو یو خو په عمل کي یې د جګړي د اور د پراخي لپاره کار کړیدي نو دا په دي دلالت کوي چي هغه تل بې معني خبري کوي، د هغه خبري نتیجه نه لري او همیش بې نتیجي پاتي دي. رباني باید له خپل ملت سره خبري وکړي د ملت غږ باید واوري او د خپل ملت اصیل بچیان او واقعي نماینده ګان چي هغوي طلبا، کرام دي باید له دوي سره خبرې او مشوري وکړي مونږ دغه سفر ناکام سفر بولو او دا د مخالفینو د کمزورۍ څرګندوي دي .

د اووني طنز...

امارت سره خبرو اترو ته کیني. دا یو غیر عملي وړاندیز دي . زه د پاکستان له مشرانو څخه غواړم چه دوي پر طالبانو فشار راوړي تر څو داسي کسان زمونږ سره د خبرو اترو لپاره کښېنوي چه زمونږ برابر او سیال وي؛ داسي وړاندیز مونږ د طالبانو لخوا د خپل قانوني دولت او حیثیت سپکاوي ګڼو !

پوښتنه : ښاغلي پروفیسور! د کنفرانس وروسته پوښتنه داسي وړاندي کړي ؟

سربیره پر دي چه ستاسو نه جهادي لویو شخصیتونو او ملي شوریو مشرانو او د هیواد اکثریت مسلمانانو او حتی ستاسو نږدي دوستانو غوښتي دي چه په آب او عزت باندي دوه پښي له موزي نه وباسي او نور دوي ځپل شوي او رنځ لیدلي ملت او ټوټې ټوټې هیواد د لا نوري ویجاړي او ویني توییدني باعث او سبب ونه ګرځي خو بیا هم تاسو په دي مسئله غور نه دي کړي . نو تاسي ښاغلي روایاتو چه ستاسو واقعي او ریښتني هدف او سوچه ددي ناپایه سیاسي سیر او سیاحت او لا لهانده ملو ځلو څخه څه دي ؟

ځواب : لوي خداي «ج» پوه دي چه زما او زما د ائتلافي ملګرو او زمونږ د بااندښو پلویانو ریښتني غوښتنه او ارزو دا ده چه د افغانستان ټولو منطقو بالخصوص لویو ښارونو ته هغسي خدمتونه وکړو کوم چه مو کابل ته کړي دي تر څو ټول هیواد د کابل په شاني کړو. او په افغانستان کي د «کربلاي افغانستان» د جوړیدو هیله تر سره کړو !! په دي هکله د نورو وړاندیزونو او مفسدو ... هم سترګي په لار یو .

د ګڼون بیه له هیواد نه بهر		
ملك	شپږ میاشتني	کلني
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

د ښځو په دلیلولو او ...

حقوقو تحقیق کوونکي امریکایي ټیم د خپل اتلس میاشتني تحقیق او پلټني نه وروسته اعلان کړیدي چي : د مسکو او له مسکو نه د آزاد شویو جمهوریتونو نه دا وخت په ډیر شمیر ښځي په غیر قانوني ډول له دي هیوادونه بهرته ویستل کیږي او په نورو هیوادو کي تري جنسي کار اخستل کیږي . په دي ریپوټ کي ویل شویدي چي : د روس او نورو هیوادونو مشران او حکام هم د بد اخلاقي په دي ناروا تجارت کي شریك دي او هغه خلك او ډلي چي دا کار کوي په ټوله نړۍ کي ریښي او له لوړ رتبه مقاماتو سره اړیکي لري دا خلك له دي مقاماتو سره جوړ جاړي کوي او دا ناجایز تجارت پر مخ بیایي په ریپوټ کي ویل شویدي چي : د پخواني شوروي اتحاد له رنګیدلو وروسته د هغه ځاي د خلکو ژوند له ډیر اقتصادي کړکیچ سره مخ شو او په فحشا او جنسي بداخلاقیو کي ککړ و خلکو له دي زریني موقع نه ژر فایده واخیسته او ښځي یې بهر ته په جعلي کاغذونو مخ کړلي او د هغوي په ناموس ، حیا او اخلاقو یې تجارت پیل کړ . د ریپوټ له مخي هغه ښځي چي اوس په ټوله نړۍ کي په غیر قانوني ډول اوسیږي لوي اکثریت یې د پخواني شوروي اتحاد د جمهوریتونو د اوسیدونکو ښځو دي خو په کور یا ... جرمني، سویزرلینډ، ایټالیا، اسرائیلو ترکیې، چین او امریکا کي په ډیره پیمانه ژوند کوي چي په کلبونو ، رقص خانو، میخانو، د زنا په مرکزونو او مساج خانو کي تري کار اخیستل کیږي .

په ریپوټ کي ویل شویدي چي : دي منظم ګروپ په ۱۹۹۶ کال کي ددي ښځو په حیا او عزت له سوداګري نه ۷ اربه ډالره لاس ته راوړیدي .

پاپ جان پال د ...

کړه لیکن اوس بي بي سي د یو مستند فلم په ښودلو دا ثابته کړله چي پاپ جان پال د سي آي اي ایجنټ دي .

د بي بي سي له خوا ته په ښودل شوي فلم « جنت ته رقابت » کي د امریکا د استخباراتو د اداري پخواني مرستیال واړتر والټر او د ریګن د انتظامیې د قومي سلامتي مشاور اجر وابلن له دي حقیقت نه پرده پورته کړیده چي د متحده ایالاتو د جاسوسي د شبکي په واسطه دوهم پاپ جان پال د سیمي ماني د اهدافو د تکمیل لپاره لوبیږي .

د امریکا د جمهور رئیس په توګه د ریګن له ټاکني پخوا نوموړي په پولینډ کي دوهم پاپ جان پال ته د خلکو له ډیر عقیدت او احترام نه اغیزمن وو د پولینډ خلکو دیو فلم د ښو دلو په ترځ کي پاپ جان پال خپل عقیدت او پیرزوینې څرګندي کړلي او ریګن په دي فلم کي دا هر څه ولیدل . ریګن د سي آي اي د مشر په توګه د پاپ جان پال له دي مقبولیت نه د فایدي اخستلو فیصله وکړله دا ۱۹۷۷ کال وو او په دي وخت کي جیمي کارتر د امریکا جمهور رئیس و کله چي ریګن خپله جمهور رئیس شو نو د استخباراتو د اداري د هغه وخت مشر یې پاپ جان پال پسي ورولیږه تر څو نوموړي په دي راضي کړي دا مشر له پاپ جان پال سره له تماس نیولو وروسته پوره بریالي راستون شو او پاپ جان پال د دوي ټولي غوښتني ومنلي له دي وروسته به چي سي آي سي په هر ځاي کي د کمونستانو د ازادي د غورځنګ په هکله تصمیم نیوه نو له پاپ جان پال سره به یې تماس نیوه . پاپ جان پال نیکاراګواه او ځني نورو هیوادونو ته هم سفر وکړ او د خپل سیوري لاندي پادریانو په واسطه یې د سیمي دوره وکړله او د «امن امن» چیغي یې وهلي .

په کاناډا کي خپریدونکي اخبار کولیتئ دا انکشاف هم کړیدي چي پاپ جان پال د سوډان د جنوبي (سهیلي) علاقو دوره هم کړیده او هلته د عیسایي هیوادونو په جوړولو کي د امریکا د مرستو هیله من دي .

د دیر ضلعي ټولو علما ...

په د پخوا په څیر ذلیله یې .

دوي وویل چي امریکا دي نور په نړۍ کي مسلمانان په خپلو منګو کي نه جنګوي او د افغانانو په کورنیو چارو کي دي لاس وهنه نه کوي .

دي علماء و له ټولو افغانانو نه وغوښتل چي دوي باید له اسلامي امارت سره په کلکه ودریږي .

هندو هاي بنیاد پرست ...

کدام اقدام در برابر حکومت اشغالگر هند شوند، دست به چنین اقدامي زده باشد.

په اشغالي کشمیر کي ...

لیږون، او د خلکو په تشتونې لاس پوري کړي دي . د هندي پوځیانو ددغه زور زیاتي له امله د کشمیر په یو شمیر سیمو کي د هندي پوځیانو په خلاف مظاهري وشوي .

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Movement of Taliban - Afghanistan
Chief Editor: Mawlavi Abdul Rehman Ahmad Hotaki.
Editor: Mula Asadullah Hanifi.
Add: House # 520, str#11,
Wazir Akbar Khan Minah,
Kabul - Afghanistan. Tel # : 21381
Peshawar ,Tel # : 844331-818157-815627
Fax: 816088 Peshawar
Account No : 71-8 Allied Bank of Pakistan LTD
Shopping Plaza KarKhano Peshawar